## د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: په تا څه شوي؟ ناول

د کتاب لیکلو کال: ۱۳۹٦

د کتاب موضوع: ناول

لیکوال: محمدنواب ودان (احمدزی)

کمپوز او ایډیټ: خپله لیکوال

د آندونو او انتقادونو لپاره په لاندې لېنک زما پوسټ ته راشئ او په کمېنټ کې یې راسره شریک کړئ.

https://www.facebook.com/۱۰۰۰۲٦۲۸۹۱۲۱٦۵۴/posts/pfbid۰۲cqrdsf۷PDraZfcrojU۴Nooi۲djG۷GLER۹W۲u۸۳۱۷YEDGqK۹۹r۸hhupwmrfzYzi٦۸l/?app=fbl

Ketabton.com

## ډالۍ:

دا کتاب د خپل هیواد هغو ځوانانو ډالۍ کوم چې تل دا آند لري چې باید دې خاورې او دې تېر ته یو څه وکړي، خو له وسه یې نه کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

## د په تا څه شوي ناول په اړه:

ما چې کله دا ناول لیکه، نو پوره باوري وم چې دا به یو وخت چاپ شي، خو چې کله ما دا ناول ولیکه او ډېرو خپروندیو ټولنو ته مې هم ولېږه، خو هغوئ به دا ویل چې اوس د کتابونو لیکل تر خرڅلاوه ډېر شوی ده، بله خبره دا هم ده چې اوس خلک اکثره وړیا آنلاین کتابون د پي ډي ایف(PDF) په بڼه خوښوي او که چېرې مو امکانات پیدا کړل، نو ستا کتاب به هرو مرو په لومړي کتار کې وي، ته تشویش مه کوه دا کتاب به هرو مرو چاپېږي، خو وخت نیسي، زه تر نن ورځې پورې په تمه وم، ما ویل یا به دوئ دا امکانات برابر کړي او یا به زه وکولای شم چې له اقتصادي پلوه دا امکانات چمتو کړم، خو ونه شوه، نو ځکه خو مې اوس پرېکړه وکړه چې څه په آنلاین ډول به یې خپور کړم، لکه مخکې مې چې ناظر ناول خپور کړی ده.

نو له تاسو څخه هم په ډېر درنښت هیله کوم چې زما د دې لینکې په اړه هرو مرو خپل آندونه او انتقادونه راسره شریک کړئ. د دې کار لپاره یو گروپ په یو پوسټ کوم چې لېنک به یې دلته شیر کړم، تاسو کولای شئ چې په هغه کې خپل نظرونه او انتقادونه شریک کړې.

والسلام

ستاسې ورور محمدنواب ودان (احمدزی)

ketabton.com - The Digital Library

# د واده تیاری

جایس په لومړي ځل غوښتل چې د خپل واده لپاره تیاری وکړي، خو د دې لپاره چې د دې کوژدن غوښتل د دوئ مینه د تل لپاره و اوسي، نو ځکه یې ورځه غوښتې ول، چې د نیویارک ښار تر ټولو ښه روغتون ته ورسره ولاړه شي، ترڅو معلومه کړي، چې په دوئ دواړو کې کومه ستونزه نه وي، هسې هم د جایس سر او معده له دوؤ ورځو څخه خوږېده، نو چې کله دواړه د نیویارک روغتون ته ولاړل، دواړو مکمل چک آپ یا پوره معاینات وکړل، روغتون یوه اونۍ وخت ورکړ، ترڅو پوره نتایج یې راووځي، وروسته له یوې اوونۍ څخه د جایس او د هغې د کوژدن جمېز نتایج را ووتل، د جېمز په معایناتو کې د وینې سرطان ښکاره شو او له هغې سره یې د عصبي برخې معایناتو کې هم ستونزې لیدل کېدې.

خو د جایس په معایناتو کې د معدې، او کولمو ډېره لویه ستونزه ښکاره شوه، همدا رنګه یې په سر کې د مکروبو زیاتوالی ښکاره شو، دوئ دواړه، ډېر خفه شول، ځکه چې واده یې نور ناشونی شوی وؤ، خو جایس ډېره خفه وه، ځکه ډاکټر ورته وویل:

آغلې! که چېرې تا یو میاشت مخکې معاینه کړې، وای نو مونږ به ستاسو علاج کړی وای، خو افسوس په دې کوم چې تاسو هر ورځ شراب څښئ او ستاسو د شرابو څښل د دې لامل شوي، چې تاسو د خپلې معدې په درد دومره پوهه نشئ، او ځان تېر راوړئ، اوس زه شرمېږم چې دا تاته وایم، خو باید درته ووایم، چې نه یوازې ستاسو معده او کولمې شړېدلې دي، بلکه له هغو سره، ستاسو په معده کې یوه دانه ده، چې په معایناتو کې تېمور(سرطان) ښکاري، دا چې تاسو غوښتې ول، چې باید نتایج لومړی تاسو ته وښیم نو ځکه خو مونږ ته درته ووېل، اوس یو بل حقیقت درته وایم، هغه دا چې که ته ډېر وخت ولرې یوه میاشت وخت به ولرې، تر دې ډېرېدای نه شي.

جایس له ډېر خفګان سره د ډاکټر له دفتر څخه راووته او د کور په لوري روانه شوه، په لاره کې یې ځان سره ډېر سوچونه وکړل، له ځانه سره یې وویل:

کېدای شي، چې په دې کې د سي آی اې لاس وي، ځکه هغوئ یوه اونۍ مخکې راته په افغانستان کې د کار کولو وړاندیز کړی وؤ، کېدای شي هغوئ د روغتون په نتیجو کې ګوتې وهلې وي او نتیجې یې بدلې کړې وي، نو ځکه خو باید زه له سره معاینه وکړم، خو څنګه؟

کله به یې داویل:

زه باید اصلاً افغانستان ته ولاړه شم او دا چې د خپل هیواد لپاره مې په وروستي ځل یو څه کړي وي، نو باید د خپل هیواد او د خلکو د ګټې لپاره افغانستان ته ولاړه شم او هلته را سپارل کېدونکې دنده سرته ورسوم، هسې هم مرم، نو د خپل سر په بیه به دا دنده کوم او که وشو، هلته به معاینات هم وکړم.

جایس هغه سړي ته زنګ وواهه، چې دې ته یې په کابل کې د دندې د سپارلو ویلي ول، هغه ته یې وویل:
زه هغې ته چمتو یم چې کابل ته ولاړه شم.

ketabton.com - The Digital Library

هغه ورته وويل:

سه شنبه به زنګ درته ووهم، خپل پېژندپاڼه دې زما کس ته ورکه، هغه به نيم ساعت وروسته ستا دروازې ته ودرېږي.

نيم ساعت وروسته، يو کس راغی او د جايس دروازه يې وټکوله، جايس دروازه پرانيسته سړي ته يې پېژندپاڼه ورکړه، او بېرته کورته ولاړه، کور کې يې سوچ کاوه، چې يوه ملګر يې چې ټام نومېده، زنګ ورته راوواهه او ورته وېې ويل:

هلو جايس، زه ټام يم، پوهېږې په اوربېدو يې ډېر خواشينی شوم، هيله مند يم چې ښه شې، خو دا اميد هم نشته، زه پوهېږم چې ته يوه مياشت وخت لرې، شايد هم تر دې کم، ستا په معايناتو کې که هرڅه هم سم وای، بيا هم ستا او د جېمز واده نه کېده، ځکه ما به ورته ويلي ول، چې ته تراوسه امانته پاتې يې يعنې تر اوسه دې له کوم هلک سره اړيکه نه ده لرلې او که فرضاً ما ورته ويلي هم نه ول، نو د واده په شپه هغه خپله پوهېده، له دې خبرو به تېر شو، هسې ما ويل چې هسې هم ته يوه مياشت لرې، نو راځه داسې به وکړو، چې زه او ته به نن شپه مېله وکړو او ټوله شپه به مزې وکړو، څه فکر کوې څنګه خبره ده؟

جايس ورته وويل:

ما فکر کاوه چې ته به انسان يې خو ته هسې يو خر يې بس! ته څه فکر کوې، آيا زه به له تا غوندې خره سره شپه تېروم، زه په څه فکرونو کې يم او ته څه فکر کوې، اړيکه پرې کړه رزيله!

د سې شنبې په ورځ د جايس دروازه وټکېده، جايس دروازه پرانيسته، چې ګوري هغه سړی ده چې دې ته يې دنده سپارلې وه، جايس ته يې وويل:

آغلې څه چې ځو، نيم ساعت وروسته به الوتکه پرواز وکړي.

جايس ورته وويل:

خو زه بايد ځان ته د اغوستو لپاره ځينې شيان واخلم!

جان وييک ورته وويل:

تشويش مه کوه، د چهار شنبې، پنج شنبې ورځې به سعودي کې يې او له هغه ځايه به ځينې شيان درته واخلې، بيا به د جمعې په ورځ پاکستان ته ولاړه شې ته ولاړه شې، له هغه ځايه به افغانستان ته ځې.

دواړه هوايي ډګر ته ولاړل، هلته سړي جايس ته پاسپورت ورکړ، او ورته يې وويل:

آغلې ته بايد سعودي کې زمونږ سفارت ته ولاړه شې هغوئ به تاته د پاکستان پاسپورت درکړي، بيا ته کولای شې چې افغانستان ته ولاړه شې، په افغانستان کې زمونږ کس جنرال عبدالکريم قدرت نومېږي، چې خلک اوس ورته عبدالکريم وايي، پخوا په مجاهدينو کې وؤ، خو د طالبانو له راتګ وروسته، هغه زمونږ د استخباراتو مشري کوي په

ketabton.com - The Digital Library

افغانستان کې، ته باید هغه ته ځان ورسوې او هغه به له تاسره مرسته وکړي او له هغې وروسته به ته د یو څه وخت په دوام کې خپل ټول کارونه خلاص کړې بېرته به امریکا ته راشې، هه دا پاسپورت درسره واخله!

جایس الوتکې ته وخته.

ketabton.com - The Digital Library

# سعودي عربستان

چې کله سعودي عربستان ته ورسېده، هلته یې ځان تورو(مخامخ/مستقیماً) د امریکې سفارت ته ورساوه، په سفارت کې یې له سفیر سره تر کتو وروسته، سفیر ته وویل:

ښاغلیه زه غواړم، چې په افغانستان کې خپله دنده ژر تر ژره سرته ورسوم، نوځکه زما وخت مه ضایع کوه او څومره ژر چې کېدای شي، ماته ویزه او پاسپورت واخله.

سفیر وویل:

اصل کې خبره داسې ده، چې ترڅو چې ستا ویزه او پاسپورت چمتو کېږي، ته باید په یوه هوټل او یا همدلته سفارت کې استوگنه وکړې او همدا رنگه باید خپل ځان ته جامې واخلې، مونږ یوازې یوه چادري درکوؤ، نور باید واخلې هسې هم ستا ټول مصرف په سي آی اې باندې دی.

جایس وویل:

چادري څه شی ده؟

سفیر وویل:

چادري د ښځو یوه خاصه جامه ده، چې طالبانو ته ډېره گرانه ده او همدا رنگه طالبانو په ټولو ښځو جبري کړې ده.

جایس له یو کس سره له دفتر څخه ووته او په بازار کې یې ځان ته ځینې جامې چې اسلامي حالت یې ډېر ښه وؤ، له ځانه سره واخیستې، بیا هوټل ته ولاړه، هلته یې شپه تېره کړه، سبا سهار بیا سفارت ته ورغله او له سفیر څخه یې وپوښتل:

ښاغلی سفیر! زما د پاسپورت او ویزې کار څنگه شو؟

سفیر وویل:

پاسپورت او ویزه دې چمتو ده، ستا لپاره مې ټیکټ هم اخیستی ده، د جُمعې په سهار څلور نیمې بجې پرواز ده، ځان چمتو کړه، افغانستان به وگورې او خوند به ترې واخلې هههههههه.

جایس په تروش تندي سفیر ته وویل:

رزیله! چې ته نه شې تلای نو نور ولې بېروې؟

سفیر وویل:

سمه ده اوس لاړه شه، بیا د جُمعې په سهار هوایي ډگر کې سره گورو.

د جُمعې په سهار جایس له سفیر سره په هوایي ډگر کې وکتل، سفیر ورته وویل:

ketabton.com - The Digital Library

اوف ډېره بخښنه غواړم، خو باید درته ووایم چې افغانستان داسې یو ځای نه ده چې  ته یې فکر کوې، هلته د هغوئ دولتي نظام اسلامي جوړ کړی، هغسې اسلامي چې تاریخ یې شاهد نه وؤ، هلته ژوند ډېر سترې کوؤنکی ده، هلته شراب د سر په بیه دي، د نجونو او هلکانو یوځای گرځېدل ډېر په سخته توگه امکان لري، دا کومې جامې چې تا پرون اغوستې وې، هغه جامې په افغانستان کې جرم ده او ته کله هم نه شې کولای چې هغسې جامې واغوندې، که چېرې طالبان په تا پوه شول، نو دا کار به ستا لپاره ډېر بد وي، ځکه که هغوئ په دې پوه شول، چې ته د سي آی اې کارکوؤنکې یې نو هغوئ به تاته په ډېر سخته توگه د مرگ سزا درکړي، دا چې دا خبره تاته کوم دا جرم ده، خو که چېرې مې درته نه وؤ ویلي نو په ټول عمر کې به د وجدان له عذاب څخه خلاص شوی نه وم.

جایس وویل:

په دې خو نه پوهېږم، چې زه به گېر شم او که نه او یا که گېر شوم، نو څنگه او څه سزا به راکول کېږي؟ خو په دې پوهېږم چې د خپل هیواد د خدمت لپاره هرڅه چې مې له وسې کېږي، هغه باید وکړم، تا ویل د شرابو قیمت د سرپه بیه ده، خو زه باید ووایم چې زه شراب نه څښنم، ځکه شراب ډېر بد بوی کوي، او همدا رنگه په معده او اعصابو باندې ډېره بده اغېزه لري، زما معده اوس هم د شرابو له امله شړېدلې ده او همدا رنگه په هغې کې تېمور ښکارېږي، نو ځکه خو زما له شرابو څخه په دې څو ورځو کې دومره کرکه پیدا شوې ده، چې هېڅ کله هم نشم کولای چې بیا شرابو ته لاس یوسم، د هلکانو سره یوځای گرځېدل او لوبې مې هم نه خوښېږي، ځکه په دې څو ورځو کې ماته معلومه شوه، چې له هلکانو سره مې هم ملگرتیا سمه نه ده، ځکه ما فکر کاوه، چې د هغوئ ملگرتیا به د دې لپاره وي چې زمونږ ټولو ژوند خوشحاله وي، خو په دې نه پوهېدم، چې هغوئ یوازې د خپل ځان په اړه فکر کوي او زما فکر ورسره نه شته، هسې خو درې ساعته وروسته پرواز ده، راځه چې دواړه لاړ شو او په یوه  رستورانټ کې ډوډۍ وخورو، په دې اړه څه وایې؟

سفیر وویل:

زه نه شم کولای چې تاسره رستورانټ کې ډوډۍ وخورم، ځکه زه باید سفارت ته ولاړ شم، هلته مې ډېر اړین کار پاتې دی، او بله دا چې اوس نیمه شپه ده او زه دا عادت نه لرم، چې د شپې ډوډۍ دباندې وخورم، که چېرې غواړې زه به تا رستورانټ ته ورسوم، هلته امریکایي خواړه هم پخېږي او عربي خواړه هم، څه فکر کوې؟

جایس وویل:

نه زه غواړم، چې داسې رستورانټ ته ولاړه شم، چې هلته افغاني خواړه پخېږي.

سفیر وویل:

سمه ده راځه چې ولاړ شو، هو ریښتیا که په افغانستان کې له تا څخه چا د نوم پوښتنه وکړه، ورته ووایه چې نوم دې ملکه ده، ځکه په پاسپورټ کې دې نوم ملکه ده، سمه ده!

ketabton.com - The Digital Library

سفیر او جایس دواړه یوه هوټل ته ولاړل چې هلته افغان پخوۀنکو رنګارنګ افغاني او خارجي پخلي کول، سفیر د رستورانټ څښتن ته په عربي ژبه وویل:

د دې نجلۍ چې څه خوښ وي، هغه ورته راوړئ.

سفیر جایس ته وویل:

آغلې جایس! دا بیک درسره واخله، په دې کې پنځلس زره ریاله او پنځه لکه کلدارې پرتې دي، که دې نورو پیسو ته اړتیا پیدا شوه نو قدرت ته ووایه، هغه به مونږ ته خبر راکړي اوس نور زه درڅخه ځم، ته خپله ډوډۍ ډېره په کراره درسره وخوره او بیا ځان هوایي ډګر ته ورسوه، پام چې پرواز له لاسه ورنه کړې!

چې کله سفیر لاړ، جایس د رستورانټ ګارسون ته د راتلو اشاره وکړه، ګارسون راغی او په عربي ژبه یې ورته وویل:

څه دې پکار دي؟

جایس ورته وویل:

ښځنه غواړم! آیا ته په پښتو خبرې کولای شې؟

ګارسون چې د جایس له خولې پښتو واورېده، یودم د جایس مخامخ څوکۍ په سر کېناست او ورته یې وویل:

ته په پښتو خبرې کولای شې؟

جایس وویل:

هو! ته څه فکر کوې؟ ریښتیا زه غواړم، چې وروسته ډوډۍ وخورم، آیا کولای شم چې له تاسو څخه وغواړم چې ډوډۍ راته تیاره کړئ او بیا یې زه وروسته وخورم؟

ګارسون وویل:

سمه ده! دا کار به وشي. خو ودې نه ویل چې ته غواړې چېرې ولاړه شې او بیا وروسته راشې؟

جایس وویل:

زه غواړم چې مخکې تر دې چې افغانستان ته ولاړه شم، د خپل ځان عمومي چک اپ وکړم، ته څه فکر کوې چې دا کار به نن وکړای شم؟

ګارسون وویل:

دا نو څه خبره ده! همدا اوس به ورشو او پوښتنه به وکړو، چې په دې معایناتو څومره خرچه راځي او څومره وخت وروسته یې نتایج راوځي؟

جایس وویل:

ketabton.com - The Digital Library

یعنې څه چې همدا اوس به ورشو، او وبه یې ګورو، ته خو به نه غواړې چې له ما سره ولاړ شې؟

ګارسون وویل:

اصل کې خبره داسې ده چې اوس شپه ده او زمونږ کار هم نه شته او د همدې لپاره به زه د رسټورانټ له مالک څخه اجازه واخلم، زه به هم درسره ولاړ شم، چې ستا ستونزه حل شي، بیا هم که چېرې ته نه غواړې، زه نه غواړم چې تا په عذاب کړم.

ګارسون له خپل مشر نه اجازه واخیسته او دواړه له رسټورانټ څخه د روغتون خواته ولاړل، په روغتون کې ګارسون د روغتون د معلوماتو برخې ته ودرېد هغوئ ته یې په عربي ژبه وویل:

السلام علیکم! ورور دا نجلۍ غواړي خپل ټول معاینات وکړي، د دې معایناتو نتایج به څه وخت را ووځي او بله دا چې څو روپۍ کېږي؟

هغه ورته وویل:

چې ډېر ژر راووځي په یوه اونۍ کې به راووځي، تر دې مخکې امکان نه لري او بیه یې هم لس زره ریاله کېږي.

ګارسون دا خبرې جایس ته په پښتو کې وکړې، جایس هم په نا امیده لهجه وویل:

دا ډېره سخته شوه، اوس به څنګه کېږي؟

ګارسون وویل:

ولې! خو یوه اونۍ وروسته ورته راشه او خپل نتایج ورڅخه واخله!

جایس وویل:

اصل کې خبره داسې ده چې زه غواړم افغانستان ته ولاړه شم، نن مې پرواز ده، دونیم ساعته وروسته به پرواز وي، نو ځکه زه نه شم کولای چې د معایناتو د نتایجو تر راوتلو صبر وکړم او که زه معاینات وکړم او نتایج یې ماته را ونه رسېږي بیا د معایناتو ګټه څه شوه؟

ګارسون وویل:

زه یوه نیمه میاشت وروسته افغانستان ته درځم، بیا به یې له ځانه سره درورم، که څنګه؟

جایس وویل:

بېخي سمه ده! راځه چې دواړه ورشو، زه به خپل معاینات وکړم، خو یوه خبره ده، هغه دا چې باید د دې معایناتو موضوع بل چاته ونه رسېږي او باید نتایج په انګرېزي ژبه لیکل شوي وي، تر څو زه وکولای شم، چې خپل معلومات له ترلاسه کولو وروسته یې وګورم.

ketabton.com - The Digital Library

دواړه ورغلل او بیا د معلوماتو د دفتر مخ ته ودرېدل، ګارسون د جایس شرایط ورته وویل او هغوئ هم ومنل، هغوئ ته یې د یوې کوټې پته ورکړه او ورته یې وویل:

تاسې هلته لاړ شئ ډاکټران به درشي او تاسو ته به ووایي چې څه وکړئ.

دواړه شلمې نمبر کوټې ته ولاړل، ډاکټران راغلل او خپل مواد یې له جایس څخه ترلاسه کړل، هغې ته یې وویل:

آغلې اوس باید د اکسرې کوټې ته ولاړه شې مونږ به هلته ستا د وجود مکلمه اکسرې واخلو او بیا به یې د نتایجو د اعلان په ورځ درته ووایو.

دواړه له روغتون څخه راووتل، جایس ګارسون ته وویل:

دوه ساعته پاتې دي پرواز ته راځه چې په پښو باندې هوټل ته ولاړ شو، ریښتیا داسې نه شي، چې ته یوه نیمه میاشت وروسته زما نتایج رانه وړې، یوه نیمه میاشت وروسته به ته ما په کوم ځای کې پیدا کړې؟

ګارسون وویل:

تشویش مه کوه زه پښتون یم، په خپله خبره کلک ولاړ یم، زه حتماً ستا نتایج دروړم، پاتې شوه، ستا د پیدا کولو خبره ته، نو ته به حتماً په کابل کې په کوم مشهور هوټل کې استوګن ځای غوره کوې ځکه خو ته داسې وکړه، که چېرې ستا کوټه د هوټل په داسې ځای کې وه چې کوم مهم سړک یعنې داسې سړک چې موټر پکې ځي راځي د هغسې سړک خواته یې کړکۍ وه نو په خپله کړکۍ به یوه سره ټوټه بنده کړې او که چېرې د سړک خواته کړکۍ نه وه، نو د هوټل په کوم دیوال به د صحیح علامه په سره رنګ سره ډېره لویه وکاږې.

جایس وویل:

سمه ده ډېر ښه فکر لرې! خو یوه خبره مې کوله، هغه دا  چې کله ما تاته وویل چې آیا ته پښتو خبرې کولای شې نو تا ټکان وخوړ او ماته مخامخ کېناستې ولې؟

ګارسون وویل:

اصل کې خبره داسې وه، چې ستا څېره افغانانو ته ورته ښکاري خو دومره ډېره هم نه، بله دا چې افغانۍ ښځې ټیکری په سر کوي، نه په اوږه، نو ځکه ما فکر کاوه چې ته به کومه غیر مسلمانه عربۍ یې او دا چې ته هوټل ته راننوتې نو ټیکری به دې په اوږ اچولی وي او دا چې فکر مې نه کاوه چې ته به یوه انګرېزه یې چې په پښتو  ژبه خبرې کولای شې، هغه هم داسې ښکلې! خو ودې نه ویل چې له چا څخه دې زده کړې ده.

جایس وویل:

ketabton.com - The Digital Library

ما پښتو ژبه په امریکا کې د امریکا غږ له یوې پخوانۍ خبریالې څخه زده کړې ده، هغې به تل په دې ټینګار کاوه چې ته باید پښتو ژبه زده کړې، ما چې به کله ورته وویل چې ولې؟ نو هغې به ځواب نه راکاوه، نه پوهېږم ولې؟ ریښتیا ودې نه ویل ستا نوم څه ده؟

ګارسون وویل:

زما نوم حبیب الله ده، خلک مې د حبیب په نامه یادوي، ځینې خلک راته حبیبی هم وایي، څوک راته ښاغلی ګارسون وایي، خو تا ونه ویل چې ستا نوم څه ده او د څه لپاره افغانستان ته ځې؟

جایس وویل:

زما نوم جایس لوګان ده، زه د افغان ماشومانو سره د مرستې لپاره افغانستان ته ځم، هلته به خلکو ته هم دا ووایم چې باید د افغانستان ماشومانو ته ډېره پاملرنه وکړي، تر څو هغوئ د جنګ ښکار ونه ګرځي.

حبیب وویل:

په یوه خبره زه پوه نه شوم، هغه دا چې د امریکا متحده ایالات له دومره لرې څخه داسې یوه هیواد سره مرسته کوي، چې د هغه هیواد له خلکو سره دیني توپیر هم لري، خو له داسې هیوادونو سره مرسته نه کوي، چې هغوئ سره دیني اړیکې هم لري، لکه ځینې افریقایي هیوادونه، دا ولې؟

جایس وویل:

د امریکا متحده ایالات نه غواړي، چې د نړۍ په هېڅ برخه کې څوک له لوږې او ناپوهۍ څخه کوم ضرر وګوري، نو په هر هیواد کې چې داسې فسادونه وي، په هغو ټولو هیوادونو کې به د امریکا مرستې جاري وي، که هغه هیوادونو سره دیني توپیر ولري او که نه.

په همدې خبرو کې دوئ دواړه هوټل ته په داسې حال کې ورسېدل چې، د جایس د الوتکې پرواز ته یوازې پنځه څلوېښت دقیقې پاتې وې، حبیب لاړه ډوډۍ یې رواړه او د جایس مخ ته یې کېښوده او ورته یې وویل:

مېرمن جایس! ته خپله ډوډۍ وخوره، چې ډوډۍ دې وخوړه بیا دې زه تر هوایي ډګره پورې رسوم.

جایس وویل:

باید ته یې هم راسره وخورې، ځکه زه نن غواړم، چې ته هم راسره په ډوډۍ کې شریک شې.

حبیب وویل:

ګوره جایس! زه نه شم کولای چې له تاسره په ډوډۍ کې شریک شم، بخښنه غواړم!

جایس وویل:

ketabton.com - The Digital Library

ولې ستا دين په دې کې مشکل لري؟ او که ته مشکل لرې؟ کنه هسې خو ما په آمريکا کې له چا سره ډوډۍ نه خوړله، بس هسې يې اوس له تاسره خورم او ته کبر کوې؟

حبيب وويل:

اصل کې خبره داسې ده، چې په سعودي کې د يوه پردي نر او ښځې کېناستل خبرې کول هم جرم ده، يوځای ډوډۍ خوړل خو لا څه کوې او دوهمه خبره دا ده چې ما ستا تر راتلو څو ساعته مخکې ښه په مړه ګېډه ډوډۍ خوړلې ده او اوس زه ځم، د استاذ(استاد) موټر تاته چمتو کوم او غواړم، چې تا تر هوايي ډګر پورې ورسوم، ته خپله ډوډۍ ښه په طبعيت وخوره، تر هوايي ډګر پورې يوازې يو پاؤ لاره ده.

جايس وويل:

يو پاؤ؟

حبيب وويل:

يو پاؤ معنا پنځلس دقيقې.

جايس وويل:

ښه ما ويل ته څه وايې دومره دې حيرانه کړم، ما ويل خی پښتو مې سمه نه ده زده.

حبيب لاړه هوټلي ته يې وويل:

استاذه هغه د موټر کلي دې راکړه، زه غواړم چې دا نجلۍ هوايي ډګر ته ورسوم، بيا به بېرته راشم.

هوټلي ورته وويل:

حبيبه! ښه هلک يې خو څنګه دې يوځل او په يوه وار په زړه داسې غلطه خبره راوګرځېده، ستا يې له نجلۍ سره څه؟ پرېږده چې په ټاکسي کې لاړه شي، هسې چټي به دې ځان ژوبل کړی وي او يا به دې بل څوک ژوبل کړی وي او بله دا چې که ملايانو ګير کړې، هغه د ټوکيانو خبره بيا به دې پرتوګ وباسي.

حبيب وويل:

خير ده! استاذه هېڅ نه کېږي، شپه ده دومره موټر هم نشته او انشالا(ان شاءاللّٰه) چې کوم ملا ملا به هم په سرک باندې نه وي.

هوټلي وويل:

سمه ده! چې ته دومره ټينګار کوې لاړشه، خو پام کوه چې موټر ټکر يا چپه نکړې او يا ملايان دې ونه ګوري.

حبيب دباندې لاړ موټر يې چالان کړ، يوه لنډه دوره يې پرې ووهله، بېرته راغی او هوټل ته ننوت، چې وي‌ې کتل جايس ډوډۍ خوړلې وه او له هوټلي سره يې خپل حساب تصفيه کاوه، حبيب هم لاړه د جايس د ميز له سر څخه يې

ketabton.com - The Digital Library

لوښي او نور ټول سامان ټول کړ، سامانونه او لوښي يې آشپزخانې (پخلنځي) ته دننه کړل او بيا بېرته دباندې ووت، جايس د موټر تر څنګ ولاړه وه، حبيب ورته وويل:

موټر ته پورته شه! چې حرکت وکړو.

جايس موټر ته پورته شوه، حبيب ترې وپوښتل:

پاسپورت او ويزه دې اخيستي دي؟

جايس وويل:

تا څه فکر کاوه، چې اخيستي به مې نه وي؟

حبيب وويل:

سمه ده! چې کله پاکستان کې ښکته شوې، بيا څه کوې؟

جايس وويل:

بيا خپل سفارت ته ځم، هغوئ مې تر تورخم پورې رسوي، بيا په تورخم کې يو کس سره کابل ته ځم، نور په کابل کې زما دنده پيلېږي.

حبيب وويل:

ښه! خو ودې نه ويل چې ته په پاکستان باندې افغانستان ته تلې نو ولې دې هلته کالي نه اخيستل؟

جايس وويل:

هېڅ ما ويل چې کېدای شي دلته به ښه وي، نو ځکه خو مې دلته واخيستل، خو يوه خبره راته وکړه هغه دا چې دا کالي په افغانستان کې ښګه دي؟

حبيب وويل:

ستاسو سفير ډېر هوښيار دی، ځکه ته يې هغې مغازې ته بولې وې، چې هلته يواځې افغاني کالي خرڅېږي.

جايس وويل:

ښګه شو، لکه چې لاره دې ورکه کړه، هوايي ډګر څه شو؟

حبيب وويل:

لاره مې نه ده ورکه کړې، دغه ده اوس نږدې يو.

چې کله دواړه هوايي ډګر ته ورسېدل، نو حبيب د جايس بيکونه له ځان سره واخيستل او دواړه دننه لاړل، چې کله جايس له حبيب نه خدای په اماني کوله حبيب ته يې وويل:

ketabton.com - The Digital Library

په ځان پام کوه او پام کوه چې کله افغانستان ته راتلې معاينات دې هېر نه شي.

حبيب وويل:

سمه ده! تشويش مه کوه!

جايس الوتکې ته پورته شوه او الوتکه هم د لاهور په لور وخوځېده.

ketabton.com - The Digital Library

# لاهور- پاکستان

چې کله په لاهور کې ښکته شوه، نو هلته يې د هوايي ډگر څخه خپل سفير ته زنگ وواهه، ورته يې وويل:
ښاغلی دونالد جان سن! زه د لاهور هوايي ډگر ته ورسېدم، اوس هم همدلته يم، تاسې چېرته ياست؟

ډونالد جان سن:

زه په اسلام آباد کې يم، خو تاته مې يو کس درلېږلی تشويش مه کوه، هغه پخپله تا پيدا کوي، بيا هم که څه مشکل پيدا شو، نو همدا زما د فتر شمېره ده، کولای شې چې زنگ را ووهې.

جايس اړيکه پرې کړه، په تمه وه، يو وخت يو کس ورته مخامخ ودرېده، ويې ويل:
آغلې جايس؟

جايس:
هو! ته څوک يې؟

کس ورته وويل:

زما نوم ډېوېډ فورس ده، زه اصلاً د متحده ايالاتو يم، د ښاغلي ډونالد جان سن ډرايوار هم يم. خو يوه خبره هغه دا چې ستا کوم انځور له ماسره وؤ، له هغه سره تا ډېر توپير درلوده، بلکل لکه يوه افغانه ښځه غوندې ښکارې داسې نه ښکاري چې ته دې امريکايۍ انگرېزه و اوسې.

جايس وويل:

دا خبرې پرېږده، درځه چې ولاړ شو، لږ څه افغاني کالي اخلم، بيا سره ځو تر تورخم پورې هلته به بيا ته ما خپل کس ته وسپارې، هغه مې تر کابله پورې رسوي.

دواړه د پېښور په لوري روان شول، شپه يې په پېښور کې تېره کړه، سبا سهار دواړو د پېښور په بازارونو کې کالي او ځينې نور شيان واخيستل، د غرمې تر ډوډۍ پورې دواړه د پېښور په بازار کې گرځېدل، چې کله غرمه شوه، نو بيا لاړل يوه هوټل کې يې ډوډۍ وخوړه، بيا نو د تورخم په لوري وخوځېدل، تورخم ته چې ورسېدل، دواړه له ځنځيرڅخه تېر شول، له يوه دوکاندار څخه يې وپوښتل:
ښاغلی عبدالقدير؟

دوکاندار (هټۍ وال) ورته ځير ځير وکتل ورته يې وويل:
تر اوسه نه ده راغلی، نن ماښام يې وعده وه.

دواړه عبدالقدير ته په تمه شول، ماښام نږدې وؤ، چې عبدالقدير راغی، فورس ورمخته شو، په اردو ژبه يې ورته وويل:

ketabton.com - The Digital Library

مونږ له تاسره خبره کړې وه، چې ته به یوه نجلۍ په خپل موټر کې تر ښاغلي قدرت پورې رسوې، اوس نو باید دا کار وکړې.

عبدالقدیر په موسکا سره ورته وویل:

دا کار خو ډېره آسانه ده، د دې کار لپاره ولې له ما څخه مرسته غواړئ او زر ډالره هم راکوئ؟

فورس زیاته کړه:

آمریکایان ډېرې پیسې لري، په دې دوه درې زرو ډالرو ښخې خبرېږي هم نه، مونږ غواړو چې هغه کسان چې له مونږ سره مرسته کوي، هغوئ ونازوؤ، نو ځکه خو مې تاته دومره پیسې درکړې، په نورو کارنو کې تر دې ډېرې پیسې درکوم.

عبدالقدیر لس دانې سلګونه واخیستل، د سینې سر جب ته یې نږدې کړل، بیا یې په زړه څه وګرځېدل، نو یې د څنګ جېب ته واچول او بیا یې فورس ته په اردو وویل:

سمه ده! زه دا نجلۍ تر سبا مازدیګر پورې ښاغلي قدرت ورسوم.

فورس ورته وویل:

پام ونه کړې چې مونږ نه خبرېږو، بله داسې نه شي چې نجلۍ طالبانو ته وسپارې ښه په سلامت یې ورسوه.

عبدالقدیر ډاډ ورکړ او ورته یې وویل:

تر ښاغلي قدرت پورې یې زه ضمانت کوم، تر هغه وروسته تاسې او قدرت پوهېږئ.

فورس ورته وویل:

بس ته همدومره وکړه، نور یې په مونږ په پورې تړلي دي.

عبدالقدیر جایس ته اشاره وکړه، ویې ویل:

راځه! چې ځو.

دواړه مخکې لاړل، دېرش یا څلوېښت متره هخوا یو سرویس موټر ولاړ وؤ، چې کابل کابل نارې یې وهلې، عبدالقدیر جایس ته اشاره وکړه، چې په وروستي سیټ باندې کېنه او خپله لاړه او د موټر جلو ته کېناسته، موټر یې چالان کړ، حرکت یې وکړ، چې له دې سره کلنډر وویل:

خو استاز تر اوسه پورې خو د څلور کسانو ځای شته؟

عبدالقدیر وویل:

مه پسې ګرځه! پرېږده چې ځان ورسوؤ، هسې هم ایله تر لغمان پورې په رښا کې لاړ شو، تر هغه وروسته بیا شپه توره تیاره شي.

ketabton.com - The Digital Library

کلنډر هم نور څه ونه ویل، لاړ په یوه تش سیټ کې په کرار سره کېناسته، هغه وخت له خوب څخه راپاڅېده، چې طالبانو په سروبي کې موټر ودراوه، یو تن طالب موټر ته راپورته شو، ویې پوښتل څه ستونزه خو به نه وي؟

عبدالقدیر وویل:

نه څه ستونز ه نه شته، بس خیر خیرت ده.

طالب بیا وپوښتل:

نو بیا ولې دومره ناوخته را خوځېدلي یاست؟

عبدالقدیر ډېره په سړه ژبه ورته وویل:

هسې خلک له تورخم څخه را اوړي او مونږ یې کابل ته راسوؤ، کېدای شي، چې د دوئ څخه کوم یو په جلال آباد کې خپلوان ولري، خو ډېرې یې نه لري، نو ځکه مونږ مجبور یو چې هر وخت وي، نو باید یې تر کابله پورې ورسوؤ.

طالب وویل:

سمه ده! اوس لاړ شئ، خو بیا دومره ناوخته مه راځئ!

موټر حرکت وکړ، یو وخت چې نوی له تنګي غارو څخه را ووت، نو بیا طالبانو ودراوه، ورته یې وویل:
له کوم ځای څخه راغلي یاست؟

کلنډر:

له تورخم څخه.

طالب:

څه مشکل خو نه شته.

کلنډر:

نه ملا صیب!

طالب:

سمه ده! درځئ، بیا نا وخته رانشئ.

عبدالقدیر هم حرکت وکړ، سورلۍ یې چې کوزه کړه، نو مخ په مکرویانو یې حرکت وکړ، چې څنګه زړو مکرویانو ته ورسېده، پنځم بلاک ته نږدې یې موټر ودراوه، نجلۍ ته یې وویل:
راځه!

ketabton.com - The Digital Library

نجلۍ هم ورپسې شوه، سړی د شپږم بلاک خواته پلی رهي شو، شپږم بلاک، درېم دهليز ته ننوت د ښاغلي قدرت دروازې ته ودرېده، دروازه(ور) يې ښه په درز سره وواهه، بيا نو په تمه شو، تر لس ځل وهلو وروسته له لسو دقيقو، يوه هلک دروازه پرانيسته او په خوبولي غږ يې عبدالقدير ته يې وويل:

کاکا سلام عليکم! راځۍ دننه!

عبدالقدير نجلۍ ته اشاره وکړه او يې ويل:

راځه!

عبدالقدير هلک ته وويل:

پلار دې کور کې ده؟.

هلک د هو په معنا سره سر وخوځاوه، درې واړه دننه ولاړل، هلک هم د خپل پلار خواته ورغی او ورته ويې ويل:

پلاره يو کس دې غواړي.

سمه ده! درځه چې ورشو!

دواړه زوی اوپلار هغې کوټې ته ننوتل چې عبدالقدير پکې ناست وؤ، قدرت عبدالقدير ته مخامخ کېناست ورته ويې ويل:

لکه چې هغه ښځه ده، چې تا بايد راوستې وای؟

عبدالقدير چې نوي نصوار کېه کړل، بيا يې وويل:

هو! دا هماغه ښځه ده، اوس ستا زوی کومې بلې کوټه ته بوتله.

قدرت په ټوکه وويل:

په لاره کې به دې ښه ساعت تېر شوی وي.

عبدالقدير چې د لاټين په تته رڼا کې خوب هم پرې راته وويل:

لکه چې زړه دې وؤ، په طالبانو مې ...؟

په دې خبرې يې قدرت ته سخته خندا ورغله، له څه خندا وروسته قدرت وويل:

سمه ده! اوس شپه ده ويده شه! سبا به خبرې کوؤ.

سبا سهار وختي عبدالقدير له قدرت څخه رخصتي واخيسته او د سرويس په خوا روان شو، په سرويس کې کلنډر ويده وؤ، کلنډر ته يې دوازه ور وټکوله او بيا چې کله کلنډر دوازه خلاصه کړه، دی د موټر جلو ته کېناست او

ketabton.com - The Digital Library

راساً د ننګرهار هډې خواته روان شو، چې کله یې هلته سوارلۍ پورت کوله، موټر لا نیمایي شوی نه وؤ، چې عبدالقدیر وویل:

کلنډره! پرېږده یې راځه چې ځو!

ځان یې تورخم ته ورساوه، تورخم کې یې ښاغلی فورس په ډېرې سختۍ سره پیدا کړ، هغه ته یې ډاډ ورکړ او په صبرناکه غږ یې ورته وویل:

تاسې تشویش مه کوئ! هغه نجلۍ مې کابل ته او د ښاغلي قدرت کور ته ورسوله.

فورس هم جېب ته لاس کړ او دوه نور سلګونونه یې ورته ورکړل، بیا یې ورته وویل:

زه نور ځم اسلام آباد ته! که څه ستونزه دې لرله مونږ ته ویلای شې.

ketabton.com - The Digital Library

# په کابل کې د کارونو پیل

هخوا ملکې (پخوانۍ جایس) د پلان له مخې خپل کارونه په مکرویانو کې پیل کړي ول، دې باید لومړی د مکرویانو ځینې ښځې د افغانستان اسلامي امارت په وړاندې پارولې وای او بیا یې ځینو ښځو ته د نورو ښځو د پارولو دنده ورکړې وای او بیا یې ټولو ښځو ته د خپلو مېړونو د پارولو دنده ورکړې وای.

نو په څو کورونو وګرځېده، هغوئ هم ورسره ومنله، بیا د ملا عبدالرحیم "سلام" کورته ورغله او د هغه له مېرمنې سره یې سترې مشې وکړه، تر لس دقیقو خبرو وروسته یې د هغه مېرمنې ته چې هغې هم لوی تعلیم درلود، وویل:
پوهېږې چې ستاسو مېړونه په تاسو باندې ظلم کوي؟

د ښاغلي سلام مېرمن مریم ورته وویل:
نه! څه ظلم راباندې کوي؟

ملکې ورته وویل:
ګوره! که مونږ امریکې، انګلنډ، پاکستان، هندوستان او ځینې نورو ځایونو ته فکر وکړو، نو هغه هیوادونه پر مخ تللي هیوادونه دي، ښځې کولای شي بې له اجازې څخه له کور څخه ووځي، هر چېرې یې چې زړه وي هلته ولاړې شي، چې چېرته او په کوم دفتر کې چې یې زړه وي، هلته کار وکړي، خو په افغانستان کې ښځه بې د خاوند له اجازې څخه له کوره وتلی نه شي، که وځي هم نو باید خاوند یې ورسره وي، دنده خو بېخي ترسره کولای نه شي، که دا ظلم نه ده، نو بیا ظلم څه ده؟

مریم موسکۍ شوه، ویې ویل:
ریښتیا دې وویل، امریکا، انګلنډ او ځینې نور ځایونه پرمخ تللي هیوادونه دي، ښځې هم په کې ډېرې آزدۍ لري، خو په یوه خبره زه پوه نه شوم، په دې آزدای کې د ښځو څه ګټه ده؟ او اصلاً د پرمخ تګ یې له ښځو سره څه؟

بیا یې زیاته کړه:
پوهېږې، د کوچانو خرې هم چې هرچېرې وغواړي بې له اجازې تللی شي، بیا که ورکې شي، نو څښتن یې وریسې سرګردان وي او دوئ خپله هم په غم لاهو یي، یوه یا دوه ورځې وروسته چېرته مرداره پرته وي. پاتې شوه، د کار مسئله، خرې باندې هم بار وړل کېږي او په خره باندې هم بار وړل کېږي، خو اصلاً د انسانانو فرق له خرو سره همدا ده، د اسلام سپېڅلي دین ښځې ته د کار حق ورکړی خو مسوؤلیت یې نه ده ورکړی، پوهېږې ولې؟ ځکه اسلام ښځې ته د ملکې په سترګې ګوري، آیا د امریکا د ولسمشر ښځه او د انګلستان ملکه څه کار کوي؟

ملکې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

د امریکې د ولسمشر ښځه خو کار نه کوي خو د انګستان ملکه، ډېره لویه چاره په مخ کې لري، د انګلستان غونډې هیواد رهبري.

مریم ورته وویل:

نو بیا د انګلستان صدر اعظم څه بد کوي؟ او که چېرې داسې وي چې د انګلستان ملکه کار کوي، نو بیا هغه هم خره ده. اوس هغه څه حاجت لري چې پادشاهي وکړي، په اسلام کې خو د همدې لپاره د ښځې پادشاهي جواز نه لري.

ملکې وویل:

خو د انګلستان د پادشاهۍ وارثه ده.

مریم وویل:

نو ولې په امریکا کې څوک پادشاهي په میراث نه وړي؟ آیا په انګلستان کې داسې نه شي کېدای چې د یوه پادشاه له لېږې کېدو یا مړ کېدو یا هم کوم بل لامل له امله بل څوک د خلکو یا د پارلمان له خوا وټاکل شي؟ معلوم داره خبره ده چې د نظام له تغیر وروسته کېدای شي، نو بیا ولې دا کار نه کوي، ځکه چې دوئ ډېر کمعقل او خره خلک دي.

ملکې وویل:

خو ته هم کار کوې! د کور کارونه کوې د ماشومانو روزنه دا هم کار ده، نو بیا ولې د مزد یا تنخوا لپاره کار نه کوې؟

مریم وویل:

پوهېږې؟ دا د ښځې له اصله تر ابده پورې عادت ده، چې د کور کارونه به کوي، که هغه ملکه وي او که خیرات خوره، د امریکا د ولسمشر ښځه یې نه کوي؟ معلومداره ده چې کوي یې دا اصلاً کار نه ده، بلکې دا یواځې د مینې یوه برخه ده، بس.

ملکې وویل:

خو تاسې له کور څخه وتلی نه شۍ، خاوندان مو وتلی شي، دا ولې؟ کته یې څه ده؟ که چېرې ستاسو مېړونه کوم داسې کار وکړي چې ستاسو نه خوښېږي.

مریم ته ډېره سخته خندا ورغله ویې ویل:

هههه! اصلاً دا د بدو کارونه عادت په تاسو کې ده، زمونږ مېړونه وتلی شي مونږ هم وتلی شو، خو له خپل محرم سره که هغه ورور وي، که هغه پلار وي، که هغه زوی وي او که هغه مېړه وي، تاسو د دې لپاره دا نه شۍ زغملای چې خاوند مو ووځي او تاسې ونه وځۍ، ځکه چې تاسې فکر کوئ چې ستاسو خاوند به له تاسو سره خیانت وکړي، نو

ketabton.com - The Digital Library

تاسو هم باید له هغوئ سره خیانت وکړئ، خو مونږ په دې فکر کې ځکه نه یو، ځکه په اسلام کې څلور ښځې رواه دي او قانوني جواز لري، که زمونږ خاوندان څلور ښځې کوي نو ودې کړي، هغوئ کله هم له مونږ سره خیانت نه کوي، اصلاً که مونږ په هغوئ دا اعتبار ونه لرو، زمونږ مور، پلار او ورور په هغه کس باندې اعتبار ونه لري نو هغوئ کله هم دې واده ته زړه نه ښه کوي او که چېرې بیا هم داسې کوم کار وکړي، نو بیا خو ته پوهېږې چې زمونږ په قانون او زمونږ په هیواد کې یې سزا څه ده؟ خو په یوه خبره پوهه نه شوم، هغه دا چې کله تاسې په خپل خاوند باندې اعتبار هم نه لرئ نو بیا ولې واده ورسره کوئ؟ تاسو ته لکه چې واده د نانځکو یوه لوبه ښکاري که څنګه؟

مریم او ملکې تر ډېره سره بحث وکړ، بلآخره ملکه دې پرېکړې ته ورسېده چې مریم باندې خپله عقیده او خپله نظر نشي منلی، نو له مریم څخه یې خدای په اماني واخیسته او د قدرت د کور په خوا روانه شوله، نږدې ماښام د قدرت د دروازې مخې ته ودرېده، دروازه یې وټکوله، چې څنګه د قدرت زوی دباندې راووت دا دننه ورغله، د قدرت زوی دباندې وکتل چې څوک خو به یې نه څاري، چې ډاډه شو، چې څوک یې نه څاري نو دی هم دننه ورغی.

ketabton.com - The Digital Library

# د کار دوهمه ورځ

سبا سهار ملکه بیا راووته د معارف د یوه تن مأمور علي حیدر کورته ورغله او د هغه له ښځې سره یې سترې مشې وکړه، هغې سره یې بحث شروع کړ، خو دا بیا تر مریم هم تکړه او ماته نه منونکې وه، خو ملکې نه غوښتل چې دا ځلې ماته وخوري نو یې له هغې څخه وپوښتل، ستاسو په نظام کې چې دا مشر یا ستاسو په خوله امیر د ځینو علماوؤ او مشرانو له خوا ټاکل کېږي نو بیا ولې د امریکا غوندې د خلکو له خوا نه ټاکل کېږي او ولې د پنځه یا لسو کلو لپاره نه ټاکل کېږي؟

د دې ښځې نوم پلوشه وه، تر دولسم ټولګي پورې یې رسمي درس ویلی وؤ، خو تر هغه ورسته یې ځینې سیاسي کتابونه هم ویلي ول، لکه د کمونیزم اصول د لېنن اصول، د مارکس اصول، اسلامي سیاست، نصیحة الملوک، کیمیای سعادت، تحافة الفلاسفه او داسې نور ډېر سیاسي کتابونه، نو یې د ملکې د خبرې په ځواب کې وویل:

پوهېږې زما خاوند څه کار کوي؟ د اسلامي امارت په استخباراتو کې کار کوي، هغه وایي د امریکا نظام داسې ده، چې ولسمشر یې بیخي صلاحیت نه لري بلکې د امریکا ټول صلاحیت د نیویارک له پروټستانټ کلیسا (پرېسبېټرېن) سره ده، خو افغانستان کې بیا یواځې د افغانستان له مشر سره وي، دلته کلیسا ګانې او جوماتونه صلاحیت نه لري، بلکه ټولو شته حکومتونه هڅه کړې چې دا جوماتو کلیسا ګانې او مندرونه تر خپل اثر لاندې راولي، که لنډ مثال یې درکړم، نو د ببرک کارمل او ډاکټر نجیب وخت کې همداسې ول، اوس خو لږ څه مذهبي مشران هم په حکومت کې ورګډ دي نو ځکه یې لږ خبره اوربدل کېږي، که چېرې په افغانستان کې لکه امریکا غوندې د ټولو خلکو له خوا څخه مشر یا ستا خبره ولسمشر یا ریس جمهور خوښ او غوره کړای شي نو د افغانستان سیاسي، نظامي او کلتوري خرابی لیرې نه ده، ځکه یو خو د امریکا ولسمشر پوره صلاحیت نه لري او بله دا چې د امریکا تر اتیا ډېر سلنه خلک یې باسواده دي، خو په افغانستان کې دا کار سرچپه ده، نو ته فکر وکړه ستاسو ولسمشر غوندې یو خر په افغانستان کې ولسمشر شي، یا ستاسو لومړني ولسمشر (جورج واشنګټن) غوندې یو غل او ترهګر د افغانستان ولسمشر شي نو د افغانانو حالت به څنګه وي، که فرضاً په دې انتخاباتو کې یو ښه کس ولسمشر شي، نو بیا څه اړتیا ده چې له پنځو کلو وروسته هغه لرې شي، اصلاً بیا دا په انتخاباتو باندې بېځایه پیسې لګول د څه لپاره؟ او که چېرې په افغانستان کې یو بد کس ولسمشر شي نو بیا اصلاً څه حاجت ده، چې هغه دې تر پنځو کلو پورې په واک کې وي؟

ملکې وویل:

آیا ریښتیا ستا مېړه په استخباراتو کې کار کوي؟

پلوشې وویل:

نه ټوکې مې کولې، هغه بېچاره یواځې د پوهنې وزارت یو عادي مأمور ده.

ketabton.com - The Digital Library

ملکې چې دا خبره واورېده لږ څه سره وغوړېده، بیا یې وویل:
ما هم ټوکې کولې غوښتل مې چې معلومه کړم، تاسې څومره پوهه لرئ؟

پلوشې ورته وویل:
هېڅ خبره نه ده! زه اوس ځم تاته د غرمې ډوډۍ تیاروم.

خو ملکې د هغې دا خبره رد کړه او ویې ویل:
زه نوره درڅخه ځم، کار لرم.

ملکه څو ورځې نورې هم وګرځېده، بیا یې نور زاړه مکرویان پرېښودل، او د دوهمو مکرویانو خواته ولاړه، هلته یې یوه دروازه وټکوله، دروازه پرانیستل شوه، ښایسته سپینه او سره ښځه وه، غټې خړې سترګې یې درلودې، یو متر او پنځه اویا شا او خوا قد یې درلوده، سپین ټکری یې په سر کړی وؤ، زېړ کالي یې اغوستي ول، چې کله یې ملکه ولیده، ورته یې وویل:
څوک یې خور؟ له کومه ځایه څخه راغلې یې؟ څوک دې پکار ده؟

ملکه دې پوښتنو  لږ څه وراخطا کړه، خو بیا یې ځان کابو کړ، ویې ویل:
زما نوم ملکه ده! زه راغلې یم، چې له افغانو مېرمنو سره مرسته وکړم، هغوئ ته ځینې شیان ور زده کړم.

ښځې ورته وویل:
زما نوم زرغونه ده! زه افغانه یم، ما ښوؤنځی نه ده لوستی پوهېږې ولې؟ ځکه زما نه خوښېده چې له نورو څخه څه زده کړم، نو ته څه فکر کوې، چې څنګه به دا ومنم چې له تا څخه به څه زده کړم؟

ملکې چې دا خبره واورېده، لږ څه پرې بده ولګېده، نو یې وویل:
له څېرې نه خو ریښتیا هم زرغونه یې، خو په سر کې دې زرغونتیا نه ښکاري.

زرغونې وویل:
اوس که چای راسره څښې دننه راشه، خو شرط یې دا ده، چې خبرې به نه کوې.

ملکې د دې خبرې په اورېدو سره وویل:
نه زه هم ډېر کارونه لرم، باید ځینو ښځو ته ځینې شیان وروښیم.

بیا لاړه، یوه بله دروازه یې وټکوله، له هغې دروازې څخه یوه ښځه راووته چې په رنګ باندې لږ څه توره وه، چې ملکه یې ولیده ورته یې وویل:
راځه لورې دننه راشه، له چاسره دې کار ده؟ په لاره به ډېره ستړې شوې یې؟ نو راځه له ماسره یوه پیاله چای وڅښه.

ketabton.com - The Digital Library

ملکې هم دا خبره غنیمت وګڼله او کورته ورننوته، ښځې چای ورته راوړ، بیا یې ترې وپوښتل:
لورې! ودې نه ویل چې نوم دې څه د چا لور یې او له کوم کور څخه راغلې یې؟ د څه لپاره راغلې یې؟

د ملکې په مخ کې چې د سوالونو دومره لوی بوج ولوېده، نو ملکه په خبرو راغله او ویې ویل:
نوم مې ملکه ده، د عبدالقدیر لور یم، مور مې ازبکه وه، نو ځکه داسې سره غوندې ښکارم، له هغه بل دهلېز څخه راغلې یم، د دې لپاره چې که وکولای شم چې تاته لږ څه در زده کړم، یو څو پوښتنې در څخه وکړم.

ښځې ورته وویل:
زما نوم بي بي ګل ده، زه دلته له خپل زوی سره اوسېږم، زوی مې په چوک کې سموات (سماوار) لري، ته دومره ښکلې یې، چې تاته مې وکتل نو اوس مې زړه وشو چې خپل زوی ته مې هم ازبکه کوم، تر څو ستا غوندې لور یې پیدا شي.

ملکې وویل:
ستا زوی څه نومېږي؟

بي بي ګل وویل:
زما د زوی نوم عبدالمنان ده، چې اوس یې خلک په، سمو سره پېژني.

ملکې وویل:
سمو څه معنا؟

بي بي ګل وویل:
سمو یانې (یعنې) سموات والا.

ملکې وویل:
هسې دا حکومتي خلک یعنې طالبان څنګه خلک دي؟

بي بي ګل وویل:
څه پوهه شم؟ زه خو څه معامله نه ورسره لرم، بس ځینې خلک وایي چې ښه خلک دي او ځینې وایي چې بد خلک دي، خو په هر ډله هر ځای او هر کور کې ښه او بد خلک شته.

ملکې وویل:
نو دا خلک یې په څه قضاوت کوي، یعنې کوم خلک یې چې ښه ګڼي د څه لپاره او کوم خلک یې چې بد ګڼي د څه لپاره؟

ketabton.com - The Digital Library

بي بي ګل تر لږ سوچ وروسته ورته وويل:

هغه خلک يې چې بد ګڼي، هغوئ ځينې يې خلقيان او پرچميان دي او ځينې نور يې هم حزبيان او جمعيتيان ځکه خلقيان ګيره نه خوښوي خو طالبان يې په زوره پرې خوښوي، خلقيان سندرو سره مينه لري خو طالبان يې ټيپونه او کيستې ورماتوي، بله خبره هم دا ده، چې خلقيان دا وايي چې له نظامي اصولو سره سم، بايد په دفاع وزارت کې فني او مسلکي کسان شتون ولري او فني او مسلکي کسان بې له خلقيانو نور څوک نه شته، خو طالبان کله په هغوئ باور کولای شي؟ طالبان وايي چې خلقيانو باندې داوؤد خان باور کړی وؤ، وضعيت يې تر مونږ پورې را ورسېده، نو که مونږ باور پرې وکړو، نو تر بلې کومې ډلې به ورسېږي افغانستان.

پاتې شوه، خبره د حزبيانو او جمعيتيانو، طالبانو د دواړه حزبونو حکومت ورخراب کړ، څوک يې غروته وخېژول او څوک يې له هيواد څخه ورک کړل، بله دا چې دوئ ځان ته مجاهدين وايي، يعنې حزبيان او جمعيتيان دوئ دا وايي چې مونږ جهاد کړی بايد د حکومت لوېې چوکۍ مونږ ته راکړل شي، خو طالبان وايي اول خو مونږ په تاسو باندې اعتبار نه لرو، ځکه تاسو د کابل د وارنولو لويه تجربه لرئ او دوهمه خبره هم دا ده، که چېرې مو جهاد د خدای لپاره کړی وي، نو ورشئ له خدای څخه يې غواړئ او که مو د څوکۍ لپاره کړی وي، نو بيا بايد درته وو‌ايم، چې پنځه کاله د مسلمانانو د وينو په زور په څوکۍ کېناستئ، نور نو بس ده. خدای مو مل!

بوډۍ يعنې بي بي ګل غلې شوه، ملکې وويل:

يوه پوښتنه مې دا ده، چې په هغو پنځه کلونو کې جګړه چا توده ساتلې وه او دوهمه پوښتنه مې دا ده، چې هغه خلک چې وايي د طالبانو حکومت ښه حکومت ده، هغوئ ولې دا خبره کوي؟

بي بي ګل بيا داسې په خبرو راغله:

د هغو جګړو په اړه خو زه نه پوهېږم، چې چا تودې ساتلې وې، خو دا به درته ووايم چې هغه خلک چې د طالبانو حکومت ښه ګڼي ولې؟

د طالبانو طرفداران دا وايي چې هغوئ يو داسې اسلامي حکومت جوړ کړی ده، چې تر عمر بن عبدالعزيز وروسته بل چا جوړ کړی نه وؤ. بله دا چې د حزبيانو او جمعيتيانو په جګړو کې ډېر خلک ووژل شول، د ښځو تيونه پرې شول، مړي وګډول شول، د خلکو په سرونو کې مېخونه ټکوهل شول، که پاکه درته ووايم نو خلک ډېر وځوربدل، نو چې کله طالبان د کابل ښار ته را دننه شول، نو په اول کې هغو د مېخونو والا چل ورسره وکړ، طالبان يې د په دې بهانه چې مونږ تاسو ته خپله سيمه تسليموؤ د جمعيت او نظار شورا سيمې ته دننه کړل، نو بيا طالبان د جمعيتيانو او نظاريانو تر بريد لاندې راغلل، بيا طالبانو تر هغه وروسته تصميم ونيوه چې نور بايد په هېڅ ډلې باندې باور ونه کړي، تر هغه وروسته يې ټولې ډلې له يوې خوا څخه وځغلولې او په کابل را دننه شول، تر کابل ورسته يې بيا شورای نظار ته تر پنجشير پورې منډه ورکړه، چې له دې کار سره نه يوازې اسلامي نظام پلی شو، بلکې خلک هم له ظلم، بې عدالتۍ، قومي ضديت، بدل اخيستلو او ټولو بدوکارونه څخه خلاص شول.

ketabton.com - The Digital Library

ځينې بيا وايي چې له داخلي جنګ نه يې خلاص کړو، د عزت له لوټل کېدو نه يې خلاص کړو.

ملکې وويل:
تاسې پوهېږئ چې طالبان د آی ایس آی له خوا اداره کېږي او آی ایس آي ته کار کوي؟

بي بي ګل وويل:
هو ولې نه پوهېږم؟ خو څه چاره شته، اوس خو ښه خبره دا ده چې هيواد مو آرامه ده، تر ځو کاله مخکې پورې خو په افغانستان کې جګړې روانې وې او که اوس هم مونږ له شوروي او يا له امريکې سره اړيکه نيسو نو بيا دا کار امکان لري.

تر څه وخت پورې دواړه غلي ول، بيا ملکې وويل:
امريکې کې ښځې چې چېرته غواړي تلای شي، که يې خوښه وه، ټيکرى په سر کوي او که خوښه يې نه وه  بيا يې نه په سر کوي، دا ظلم نه ده چې په افغانستان کې ښځو باندې چادري جبري ده، ښځې بايد له محرم سره له کوره څخه ووځي، او بايد له خپل خاوند يا پلار څخه اجازه واخلي؟

بي بي ګل وويل:
ښه چې داسې ده تا له چا نه اجازه اخيستې ده؟ معلوم داره ده چې له چا څخه دې اجازه نه ده  اخيستې، محرم مې هم درسره ونه ليد ما چې دروازه پرانيسته نو ته يواځې ولاړه وې، دا به ريښتيا هم ظلم وي، چې ښځې دې د دباندې وتلو لپاره اجازې او محرم ته اړتيا ولري، خو پوهېږې زه دومره په ديني مسائلو نه پوهېږم، اصلاً زما ماغزه په دې شيانو سم کار نه کوي، چې دا به ظلم وي او که نه خو خبره داسې ده، که دا کار په امريکا کې وای نو خامخا ظلم وؤ، يو د دې لپاره چې هغوئ يانې د هغه ځای خلک مسلمانان نه دي او دا قانون بايد په مسلمانانو باندې پلی شي، دوهم دا چې اوس که په امريکا کې يوه ښځه راووځي نو بيا کولی شي چې پارک ته ولاړه شي، دسمندر غاړې ته ولاړه شي، خو په افغانستان کې به چېرې ولاړه شي؟ کنډوالې ته او که هغو کندو ته چې شورويانو بمونو جوړې کړې دي؟

ملکې وويل:
خو ښځې کولای شي چې کار وکړي او پيسې وګټي!

بي بي ګل وويل:
نو دا زما کمعقل زوی چې پيسې ګټي د څه لپاره يې ګټي؟ معلومداره خبره ده چې زما لپاره او د خپلې ښځې لپاره يې ګټي او مونږ ايله د کور کارونه وکړو، د صحرا کارونه مو له وسه نه کېږي.

ملکې وويل:
خو تاسې په امريکا کې کولای شئ چې بې له ټکري او چادري څخه دباندې ووځئ.

ketabton.com - The Digital Library

بي بي گل وويل:

په دې خبرو دې زه دومره نه پوهېږم، دا امريکنيانې چې دي، دوی ډېرې بې شرمې دي، زه خو شرم لرم، که طالبان راته دا هم ووايي چې ته ټيکرى مه په سر کوه، بيا به يې هم په سرکوم، که مې طالبان د ټکري لپاره مړه هم کړي بيا يې هم په سر کوم.

ملکې تر ډېره له بي بي گل سره بحث وکړ، بلآخره دې نتيجې ته ورسېده، چې د دې خبرو په بي بي گل اغېزه کړې وه، نو ملکې له بي بي گل څخه خداى په اماني واخيسته، د غرمې ډوډۍ لپاره د ښاغلي قدرت کورته ولاړه، د غرمې ډوډۍ يې د ښاغلي قدرت کره وخوړه او بيا نو کارته نو دربېم سرک ته د طالبانو د امر بالمعروف مشر مولوي عبدالجليل اخوند کورته ولاړه، د هغه دروازه يې وټکوله، بيا يې وټکوله، څلور پنځه ځله يې وټکوله دروازه خلاصه (پرانيستل) نشوه، نو يې د گاونډي دروازه (ور) ور وټکوله، د هغه دروازه يوه دولس کلن هلک خلاصه کړه، ملکې له ماشوم څخه وپوښتل:

ستاسو د گاونډي دروازه ټکوم، خو څوک يې نه خلاصوي، ولې؟

ماشوم په کرار غږ ځواب ورکړ:

هغه داسې ده، چې د مولوي صيب اوښۍ د شوراى نظار سره په جنگ (جگړه) کې شهيد شوى ده، د هغه ټوله کورنۍ د هغه د اوښي کورته ورغلي دي، دوه درې ورځې به هلته وي، بيا کېداى شي چې راشي.

ملکې وويل:

مور دې چېرې ده؟

هلک وويل:

ته همدلته صبر وکه (وکړه) زه همدا اوس خپلې مور ته غږ کوم!

د هلک له تگ نه دوه دقې (دقيقې) وروسته د هلک مور دروازې ته راغله له ملکې سره يې ستړې مشې وکړه، بيا يې هغه کوټې ته وبلله، کوټې ته چې لاړل، د هلک مور چاى تيار کړى وؤ، نو يې ښځې ته چاى واچاوه او بيا يې ترې وپوښتل:

ته څوک يې او د مولوي صيب له کورنۍ سره دې څه کار ده؟

ملکې وويل:

زما نوم ملکه ده، ملا صيب مې ملگرى ده، هغه راته ويلي ول چې يوه مياشت وروسته نکاح درسره ترم، خو بيا دغه ده تر هغې ورځې ورسته درې مياشتې کېږي، اوس نو زه هم په تنگ شوم او دغه ده دلته راغلم.

ښځې په غوصه ورته وويل:

ketabton.com - The Digital Library

چپ شه رزيلې! هغه زما ورور ده! هغه هېڅ کله له کومې نجلۍ سره ملګرتوب نه کوي او که وغواړي نو دستي نکاح ورسره کوي او هو په دې خبرو دې د هغه مېرمن خبره نه شي، چې ته په هغه باندې دومره لوی تهمت لګوې، کنه بيا به دې ژوندۍ په غوجله کې واچوي او مړه به دې ځينې راوباسي.

ملکې چې دا خبرې واورېدې نو ډېره پرېښانه شوله، خو بيا يې هم چای وڅښنه، چې کله يې چای وڅښنه بېرته د قدرت کورته ورغله، قدرت ته يې وويل:

زه غواړم يو خط (ليک) د امريکا هغه سفارت ته ولېږم چې په اسلام آباد کې موقعيت لري.

ښاغلي قدرت ورته وويل:

ته خپل خط وليکه زه به يې ستاسو د سفير ډرايور ښاغلي فورس پورې ورسوم.

ملکې وويل:

سمه ده، زه به خپل خط وليکم، بيا به يې سبا ته تاته وسپارم.

چې دوئ د شپې ډوډۍ وخوړه، ټول ويده شول، بې له ملکې څخه، ځکه ملکې د خط په ليکلو شروع وکړه، ملکې خپل خط داسې پيل کړ:

ښاغلی سفير زه تاسو ته خط ليکم او دوهم خط هم د سي آی اې غړې آغلې برېيَن سالټ ته وسپاره، کېدای شي ته به دا وايې چې زه آغلې برېيَن سالټ له کومه پيدا کړم، ته دا خط زما د ګاونډۍ په پته امريکا ته پوسټ کړه، هو رېښتيا د هغې نوم په خط باندې وليکه، ډاډمن اوسه چې هغې ته به رسېږي.

بيا يې نو دوهم ليک داسې پيل کړ:

ښاغلی مشر جان وييک! زه پوهېږم چې تاسو د دې لپاره زه دې دندې ته راستولې وم، ځکه چې ته په دې ډاډمن وې چې زه تر ټولو کسانو څخه تېز ماغزه لرم، ډېره دليل ويونکې يم او بله دا چې زه د دوئ په يوه ژبه هم پوهېږم، خو دلته خبره داسې نده، زه چې تر اوسه له کومو ښځو سره مخامخ شوې يم، د هغو نيمې يې داسې پوهې دي چې هېڅ سيال نه لري، خو ډېرې يې بيا داسې دي، چې له ډېرې ناپوهۍ څخه زما خبره نه مني، حتیٰ کومې خبرې چې زه ورته کوم، هغوئ بيا راته داسې وايي، مونږ په دې خبرو باندې هېڅ کار نه لرو، که زه هغوئ ته وايم چې ولې ستاسو په حکومت او دين کې ښځو ته د کار اجازه نه شته؟

پوهېږې هغوئ څه ځواب راکوي؟ هغوئ راته وايي:

زمونږ په دين کې نر او ښځه دواړه د کار کولو حق لري، خو نر مسوؤليت هم لري او ښځه يې نه لري، نو مونږ ولې بايد دا مسوؤليت ځان ته جوړ کړو؟

ځينو به ويل:

ketabton.com - The Digital Library

اصل کې خبره داسې ده چې مونږ اصلاً دې  ته اړتیا نه لرو چې کار وکړو، زمونږ وروڼه، زمونږ خاوندان او زمونږ زامن د څه لپاره کار کوي؟ معلومداره خبره ده، چې زمونږ لپاره.

که به مو د حکومت په اړه ترې وپوښتل:

نو ویل به یې، چې همدا حکومت  ډېره ښه حکومت ده، اصلاً تا ولې زمونږ په حکومت پسې راخیستې ده؟

او همداسې نور... نو هیله ده چې په اړه یې لا نورې لاربښوونې راته وکړئ!

مېرمن جایس یا اوسنۍ ملکه!

چې کله یې لیک بشپړ کړ، نو د قدرت لور د دې کوټې ته ورغله، څه ګوري چې په دوه پاڼو کې یې انګریزي لیکلې وه، چې یوه یې ډکه وه او بله یې نیمایي وه، نو ملکې ته یې وویل:

که دې خط خلاص شوی وي، نو ویده شه، سبا ته به ډېر کار لرې، نو ځکه خو لږ بېړه کوه.

ملکې ورته وویل:

سمه ده! اوس ویده کېږم.

ketabton.com - The Digital Library

# عجیب خوبونه

ملکه څملاسته خو خوب نه ورته په فکرونو کې ډوبه وه، کله به یې د خپل ځان په اړه فکرونه کول او کله به یې د هغو ښځو په اړه فکرونه کول، چې دې له هغوئ سره بحث کړی وؤ، کله به یې په دې اړه سوچ کاوه، چې دا افغانې ښځې ولې دومره کمعقلې دي او کله به یې دا سوچ کاوه چې دوئ تر دولسم لوست کړی دومره هوښیارې دي، که یې پوهنتون ویلی وای او یا یې ماسټري کړې وای نو بیا به څه ترینه جوړ وؤ، پي ایچ ډي (ډوکټورا) خو لا څه کوې؟ که افغانانو پي ایچ ډي کړې وای؟ نو اوس به یې په جهان کې سیال نه لاره؟ خو دوئ ولې دومره په حجاب باندې فکر کوي؟ ولې اجازې ته اړتیا لري؟ ولې باید له دوئ سره په لاره باندې محرم موجود وي؟ اصلاً دا ملا محمد عمر مجاهد ولې دومره سر سخته او کمعقل کس ده، چې دومره فشارونه په خپل ملت راولي؟ دوئ څنګه کولای شي، چې په سل یا یو نیم سل زره نا روزلي لښکر باندې د افغانستان خاوره او نظم دواړه وساتي؟ اصلاً جمعیتیانو، حزبیانو، ګلمجمانو، هزاره ګانو ولې دومره ظلمونه وکړل، ولې یې له یو بل سره جګړه وکړه؟ د دوئ جګړه چا ګرمه ساتلې وه، طالبان له کوم ځای څخه راغلل؟ اصلاً زما هیواد امریکا ولې له دوئ سره مرسته کوي؟ امریکا ولې غواړي په مفته یوې نوې جګړې ته دننه شي؟ امریکا په دې جګړه کې څه ګټه لري، چې دومره لوی زیان ته چمتو ده؟

همداسې نور ډېر سوچونه یې هم کول، خو د جواب په اړه یې فکر نه کاوه، په دې اړه یې هم فکر کاوه، چې باید سبا خپل کار ته دوام ورکړي او که د ځواب په تمه پاتې شي؟

همدې سوچونو خوب ته نه پرېښوده، خو بلآخره خوب پرې راغی او د سوچونو له نړۍ څخه یې د خوبونو نړۍ ته بوتله، بیا یې نو په خوب کې هم همدا داستانونه لیدل، خوبونو او سوچونو کې یوازې همدا توپیر وؤ، چې په سوچونو کې به چې دې کوم څه لیدل هغه به تور او سپین ول، خو په خوبونو کې رنګه او فول ایچ ډي (پوره لوړ کیفیت ویډیو).

سبا سهار چې را پاڅېده، نهه بجې وې، د قدرت لور ورته وویل:
سلام علیکم مېرمنې! پورته شه! چای وڅښه!

ملکې د قدرت لور صفیې خواته مخ ورواړاوه ورته یې وویل:
څو بجې دي؟ ته څه وخت راغلې؟

صفیې په ډېر آرام غږ سره وویل:
نهه بجې دي، ماته مې لالا وویل، نو ځکه خو همدا اوس راغلم.

ملکې وویل:
سمه ده! ښښنه غواړم، خو ته دا ووایه چې ستا لالا څه کار کوي؟

صفیې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

لالا مې بېکاره وؤ، بیا یوه ورځ یې له خپل یوه ملګري څخه پوښتنه کړې وه، چې ته څه کار کوې؟

هغه ورته ویلي ول:

زه اوس د طالبانو په ډله کې شامل شوی یم، د هوایي ډګر په ساتلو کې له هغوئ سره مرسته کوم یانې د هوایي ډګر ګارد یم، بیا زما ورور ته هم وړاندیز کړی وؤ، تر څو هلته ورشي، هغه مې پلار ته وویل، پلار مې هېڅ ورته ونه ویل، ټوله خوښه یې زما ورور ته پرېښوده، چې کله زما ورور هلته لاړه، یوه ورځ یوې زړې جېټ الوتکې ته پورته شوی وؤ، د هغې سیستم یې لیدلی وؤ، بیا یې زما پلار ته ویلي ول چې پلار الوتکه څنګه پرواز کوي، پلار مې په نظري ډول تر ډېره ورته وښوده، خو بله ورځ مې لالا راغی او زما تره څخه، چې هغه هم پیلوټ وؤ، له هغه څخه یې وغوښتل تر څو له ده سره میدان ته ولاړ شي او د الوتکې پورته کول او ښکته کول ور زده کړي، په هغې ورځ یې زما له تره څخه الوتکه زده کړه او اوس پیلوټ ده. (خو هیڅا ته بې له ښاغلي قدرت څخه دا معلومه نه وه چې عبدالجبار عمري د استخباراتو غړی ده، قدرت په ظاهره آمریکایانو ته یعنې سي آی اې ته کار کاوه، خو په پټه یې د امارت استخباراتو ته).

ملکې وویل:

ښه نو ته د یوه پیلوټ خور یې؟ ریښتیا ودې نه ویل، ستا پلار پیلوټ وؤ؟

صفیې وویل:

هو زه د یوه پیلوټ خور یم، خو د یوه پیلوټ لور نه یم، زما د پلار هم تر ډېره د طیارې (الوتکې) تخنیک او پرواز (الوزول) زده دي، خو په اصل کې یو استخباراتي مسوؤل ده، نه یو پیلوټ.

ملکې د دې لپاره چې خبره واړوي، له صفیې څخه وپوښتل:

تا ولې تر اوسه واده نه ده کړی؟

صفیې له شرمه سر ښکته واچوه، له څه ځنډ وروسته یې وویل:

زما کوژده زما د مما(ماما) له زوی سره شوې ده، هغه په سعودي کې ده، چې کله راشي، نو بیا به مې له هغه سره واده هم وشي، خو باید تر هغو په تمه اوسم چې هغه راځي. اصلاً تا ولې واده نه ده کړی، عمر خو دې تر ما ډېر ده، داسې څه ستونزه وه، چې ته یې له واده کولو منع کړې یې؟

ملکې د دې خبرې په اورېدو سره لږ څه ټکان وخوړ، بیا یې وویل:

اصل کې زما خبره هم ستا غوندې وه، زما کوژدن فرانسې ته تللی وؤ، چې کله بېرته را وګرځېده، نو هغه غوښتل چې ژر تر ژره واده وکړو، خو پوهېږې څه وشول؟ ما د دې لپاره چې باوري شم، چې هغه کوم ساري او غیر ساري لوی مرض ونه لري او ماته انتقال نه شي، نو له هغه نه مې وغوښتل چې راځه دواړه به عمومي چک اپ یعنې د ټول بدن معاینات وکړو، دا کار د دې سبب شو، چې زه واده ونه کړای شم او باید افغانستان ته راشم، همدغو معایناتو ماته دا جرئت راکړ، چې افغانستان ته راشم. وی ریښتیا! ما نه خو هېر شوي ول، چې ما په سعودي عربستان کې معاینات

ketabton.com - The Digital Library

کړي وؤ، د هغه هلک نوم څه وؤ؟ د هغه نوم هم رانه هېر شوی، باید ما په مېلستون باندې سره جنډه لګولې وه، خو زه خو په مېلمستون کې نه یم، زه به هغه معاینات څنګه لاس ته راوړم؟

ریښتیا زه به په معایناتو باندې څه وکړم، هر څه چې کېږي هغه خو هسې هم کېږي، ښه خبره دا ده چې هغه معاینات هېڅ ونه ګورم.

صفیې ورته وویل:

دا په څه ګډو وډو سر شوې، څه خبره دربانديې وشوله، چې چټیات وایې؟

ملکې وویل:

هېڅ! ما په سعودي کې ځینې معاینات کړي ول، چې یوه هلک راته ویلي ول، چې زه یې دروړم، خو هغه هلک به ما څنګه پیدا کړي؟

صفیې ورته وویل:

څه چې خدای غواړي او څه چې قسمت وي هغه کېږي، هېڅ تشویش مه کوه.

ملکې بیا له صفیې څخه وپوښتل:

تا ویل زما پلار یو پوخ استخباراتی ده، نو ستا پلار خو به د طالبانو په استخباراتو کې کار نه کوي؟

صفیې ورته وویل:

نه! زما پلار ورغلی وؤ، خو هغوئ ورته وویل: مونږ اصلاً په حزبیانو او جمعیتیانو باور کولای نه شو، خو بیا هم ته څه موده صبر وکړه، تر هغه وروسته به مونږ تاته خبر درکړو.

ملکې وویل:

نو بیا امریکایانو وړاندیز ورته وکړ، ستا پلار هم قبول کړ؟

صفیې وویل:

کېدای شي، چې همداسې وي، ځکه زما پلار غواړي چې خپل هیواد ته خدمت وکړي، نو ځکه کېدای شي چې هر چاته لاس ورکړي.

ملکې له نورو خبرو ډډه وکړه او صفیې هم بیا ملکې ته وویل:

راځه! چې زه ته او مور مې په هغې بلې کوټې کې چای وڅښو، پلار اوورور مې د ننګرار (ننګرهار) هډې ته تللی د دې لپاره چې ستا لیکونه عبدالقدیر ته ورکړي، تر څو هغه یې ستاسو د سفیر ډرایور فورس ته ورکړي.

ملکې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

زه به خپل مخ ته اوبه واچوم او هم به خپله خوله ووینځم بیا به درشم، اوس ته درځه.

صفیه لاړه، چای یې تیار (چمتو) کړ، مور ته یې هم وویل:
موري راځه چای مې تیار کړی، ملکه به هم اوس راشي.

ملکه چې راغله ګوري چې د صفیې مور او صفیه داوړه دسترخان (دسترخوان) تر څنګ ناستې دي، د شودو چای یې په پیاله کې اچولی ده، دا هم لاړه د صفیې تر څنګ کېناسته، صفیې دې ته چای واچاوه او د دې مخ ته یې کېښود بیا یې ورته وویل:
نیسه وڅښه چې بیا ونه وایې چې افغانان د مېلمنو سمه پالنه نه کوي.

ملکې وویل:
سمه ده! هغه خو هسې هم راته ملعومه ده چې افغانان د مېلمنو پالنه کوي، ځکه چې زه هر کور ته ځم، د ډوډ او چای ست راته کوي.

صفیې وخندل ویې ویل:
چا خو به ډېولې نه یې؟

ملکې وویل:
نه چا نه یم ډېولې، خو په اصل کې خبره داسې ده، چې ښه خبره دا ده، چې د طالبانو استخبارات په ما خبر شوي نه دي او خدای دې نه کوي چې راباندې خبر شي، کنه بیا به ماته هم لویه ضربه ورسوي او زما ټول پلان او کار به را خراب کړي.

صفیې ورته وویل:
ریښتیا ته همداسې فکر کوې؟ چې ته تر اوسه پورې د طالبانو له استخباراتو څخه پټه یې؟

ملکې وویل:
ته څه فکر کوې، چا به ورته ویلي وي؟ که چېرې خبر دي نو ولې مې نه نیسي؟ ولې دې ته انتظار دي، چې مونږ یې حکومت ور خراب کړو.

صفیې وویل:
څه پوهه شم، خو نظر په دې چې هغوئ افغانستان باندې واک لري او د وخت او د ځای حکومت ده، نو کېدای شي چې په تا باندې خبر اوسي.

ملکې ساعت ته وکتل، لس بجې وې، نو یې صفیې ته وویل:
ستا هغه ورور څه شو، چې هر ورځ به یې زه تر ځینو کورونو رسولم؟

ketabton.com - The Digital Library

صفيې وويل:

هغه خو مې له پلار سره، د جلال آباد هډې ته تللی وؤ، کېدای شي، چې لږ وروسته راشي؟ خو که چېرې ځې نو زه به مې هغه بل ورور یانې هغه چې په طالبانو کې ده، هغه ته به ووایم، چې تا ورسوي.

ملکې وویل:

سمه ده، زه غواړم، چې دریمو مکرویانو ته ولاړه شم، که ته کولای شې نو خپل ورور ته ووایه، چې ومې ورسوي.

صفیه له کوره ووته او د خپل ځنګ کور دروازه یې وټکوله، دروازه خلاصه، شوه، عبدالجبار ورو وویل:

څه خبره ده خورې، څه ستونزه خوبه نه وي، چې دومره په بېړه دې دروزاه وټکوله؟

صفیې وویل:

نه کومه ستونزه نه شته، خو ته باید ملکه تر دریمو مکرویانو ورسوې، که دې خوښه وي، نو ځان چمتو کړه؟

عبدالجبار وویل:

سلیم څه شو؟ لا تر اوسه نه ده راغلی؟

صفیې وویل:

نه! تر اوسه نه ده راغلی، ولې څه خبره خو به نه وي؟

عبدالجبار وویل:

نه ! څه خبره نه شته، ما ویل څه ورشه ورته ووایه، یواځې نن دې تر دریمو مکرویانو رسوم.

صفیه ورغله، ملکې ته یې وویل:

که چای دې خلاص شوی وي، نو ورشه، ورور مې درته ولاړ ده.

ملکې وویل:

سمه ده! زه خپل سر سامان جوړ کړم بیا درځم، یا څه لږې یې کړه، چې ډوډۍ مې وخوړه، بیا به لاړه شم، ورور ته دې ووایه، چې له ډوډۍ وروسته ځم.

صفیه هم لاړه او ورور ته یې وویل:

وروره هغې ویل:

ډوډۍ مو چې وخوړه بیا ځو!

عبدالجبار وویل:

دا ښځه هم سمه نخره بازه ده! خو خیر څه وکړو؟ ورته ووایه چې سمه ده.

ketabton.com - The Digital Library

صفيې وويل:

سمه ده! بيا به تاته هم ډوډۍ راوړم، چې ډوډۍ دې وخوړه او د ماسپښين لمونځ دې وکړ، بيا راشه او ملکه ورسوه، ښه وروره؟

عبدالجبار وويل:

نه! اوله هغه رسوم بيا بېرته جَمې (جَمعې) ته راځم.

صفيې ورته وويل:

سمه ده! زه همداسې ورته وايم، اوس به لاړه شم، چې ډوډۍ تياره کړم.

صفيه لاړه او ملکې ته يې وويل:

ورور مې ويل، دولس بجې دې بيايم، ته مخکې تر ډوډۍ ځان تيار کړه.

بيابه ورسره لاړه شې، زه ډوډۍ تياروم.

ملکې ورته وويل:

ته درځه! زه لږ وروسته درځم! هم به له تاسره مرسته وکړم او هم به د افغانستان د خوړو د پخولو طريقه (لاره) زده کړم.

ketabton.com - The Digital Library

# له عبدالجبار سره لومړی سفر

صفیه لاړه، چې ډوډۍ تیاره کړي،ملکه هم لاړه خپل ځان باندې یې اوبه واچولې، بیا لاړه کالي یې بدل کړل، لړ یې په سر او مخ باندې ګوتې ووهلې، تر هغه وروسته د صفیې خواته ورغله، له هغې سره یې مرسته وکړه، لس کم دولس بجې ډوډۍ تیاره شوه، بیا نو ملکې او عبدالجبار دواړو په بېلو بېلو خونو کې ډوډۍ وخوړه او بیا دواړه په سرې بایفور موټر کې کیناستل او د درېمو مکرویانو په لوري روان شول، په لاره کې ملکې عبدالجبار ته وویل:

ستا نوم عبدالجبار ده، د طالبانو په حکومت کې کار کوې، که ستا پلار ګیر شي، که طالبان وغواړي چې ستا پلار ونیسي نو ته څه کولای شې؟

عبدالجبار وویل:

زه کولای شم، خپل پلار ورته تسلیم کړم.

ملکې وویل:

د دې پر ځای چې خپل پلار وژغورې، خپل پلار په ګېر ورکوې؟

عبدالجبار وویل:

که په امریکا کې ستا پلار پسې پولیس شي، یا حتیٰ پولیس هم ورپسې نه وي، خو ستا پلار جرم کړی وي، نو بیا ته څه کوې؟

ملکې وویل:

دا خو معلومداره (څرګنده) خبره ده، چې په ګېر یې ورکوم، ځکه هیڅوک هم تر قانون څخه پورته نه ده.

عبدالجبار وویل:

نو زما پلار څنګه تر قانونه پورته شو؟ که فکر کوې چې افغانستان کې باید قانون عملي نه شي؟

ملکې وویل:

خو افغانستان د ترهګرو په لاس کې ده.

عبدالجبار وویل:

ترهګر مانا (معنیٰ)؟

ملکې وویل:

ترهګر د نړۍ دښمنان دي، ترهګر د امریکا دښمنان دي. یعنې القاده او داسې نورې ډلې.

عبدالجبار وویل:

ketabton.com - The Digital Library

زه فکر نه کوم چې ترهګر دې شتون ولري، پوهېږې؟ حتیٰ باور به یې هم ونه کړې، خو زما یو ملګری ده، محمدتواب، په اصل کې بې سواده ده، خو ډېر پوه او هوښیار کس ده، پوهېږې هغه د ترهګرو په اړه څه وایي؟ هغه وایي:

په نړۍ کې هېڅ ترهګر، بزمچ، توروېست، دهشت افګن او اشرار نه شته، مګر هغه څوک چې ستا د ګټو په وړاندې خنډ جوړېږي او یا داسې کسان چې تاسې یې د خپلو ګټو لپاره کاروئ خو هغوئ فکر کوي، چې د هغوئ کارونه ستاسو په زیان دي، نو بیا تاسو د نړۍ لپاره په هغوئ باندې نومونه کېږدئ، کېدای شي، هغه نوم ترهګر وي، باغي وي، مزمچ وي او یا کوم بل نوم وي.

ملکې وویل:

ریښتیا! هغه له دې نظریاتو سره هم بې سواده ده؟

عبدالجبار وویل:

بلکل! خو ډېر هوښیار، تجربه کار او پوه کس ده، ته هم ښکته شه، دغه ځای درېم مکرویان دي، او هغه پورې بلاک چې وینې هغه اتم بلاک ده.

ملکې وویل:

مننه! که بیا بېکاره وې، نو څلور بجې راپسې راشه.

عبدالجبار وویل:

سمه ده، بیا به ګورو چې څه کېږي؟

ملکه دننه لاړه او درېم دهلېز ته ننوته، پورته پوړ ته پورته شوه، خپله پلان پاڼه یې وکتله، د اتم بلارک، درېم دهلېز پنځم منزل، لومړی اپارتمان (کور) هدف وؤ، عبدالجبار هم ځان کورته ورساوه، موټر یې هلته ودراوه، بیا لاړه جومات کې یې اودس وکړ او په جمع لمونځ ادا کړ، بېرته کورته ولاړ، خپله دروازه یې وټکوله، خور ته یې وویل:

ما په درې نیمو بجو پاڅوه.

لاړه په خپله کوټه کې یې ډډه ووهله، نن هسې هم رخصت وؤ، بیا یې د طیارو په اړه سوچونه کول، چې سبا ته که خدای کول، نور نو مسعود نه پرېږدم، که پاکستان یې غواړي او که یې نه غواړي یو جبټ چې جوړه ده، هغه پورته کوم، ټولو پنجشېریانو باندې بمونه غورځوم، هېڅ ځای پکې روغ نه پرېږدم، تر څو به دا جګړې روانې وي، دوستم د خره زوی ته بیا وګوره ته! هغه په دښت لیلې کې څلورنیم زره د اسلامي امارت مجاهدین شهیدان کړل، بیا دا د دوؤس زوی وتښتېده، امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد باید د هغوئ په بدله کې ټول ازبکان ور مردار کړي وای، خو داسې یې ونه کړل، ویې ویل چې:

دوئ بېګناه دي، د یوه کس په ځای بل ته سزا نه ورکوم.

ketabton.com - The Digital Library

بیا لږ غلی شو، تر لږ ځنډ وروسته یې وویل:

اوس که سبا د نظار شورا مشران وتښتي، نو بیا به همدا خبره وي، ښه خبره دا ده، که د دې کار لپاره وژل کېږم او که له هرڅه سره مخ کېږم، خو بیا هم باید ټول پنجشېر تر بمونو لاندې کړم.

په همدې سوچونو کې وؤ، چې خوب یوړ، په خوب کې لاړه هوایي ډگر ته، هلته بیا پوځي برخې ته لاړه، هلته لاړه دهغې جبېږ خواته چې له حزبیانو او جمعیتیانو څخه لا جوړه پاتې شوې وه، ښکته پورته یې وکتله، بیا لاړه، د طیارې راکټونه او بمونه یې ورپوره کړل، بیا لاړه، د طیارې د بنزینو غم یې هم وخوړ او لاړه طیارې ته ور پورته شو، طیاره یې له سره چیک کړه، بیا یې چالانه کړه، تر هغه وروسته یې هم چیک کړه، بیا یې نو طیارې ته پرواز ورکړ، راساً مخ په پنجشېر، چې کله پنجشېر ته ورسېده، لاس یې د بمونو غورځولو ته ورتېر کړ، چې هلته یې کوچني کوچني ماشومان ولیدل، بېرته پښېمانه شو، بیا یې زړه نا زړه لاس مخکې کړ، بیا پښېمانه شو، طیاره یې بېرته راوگرځوله، راساً کابل ته راغی د کابل په هوایي ډگر کې یې طیاره کېنوله، نور ژړا ورغلې وه، نو ښه په زوره زوره یې وژل بیا به یې له ځانه سره وویل:

زه داسې کار نه شم کولای، زه داسې کار نه شم کولای.

په همدې وخت کې صفیه راغله او عبدالجبار ته یې وویل:

ته څه نه شې کولای؟ پورته شه نږدې څلور بجې دي.

عبدالجبار چې له خوبه پاڅېده، ویې ویل:

هغه کمعقل راغی که نه؟

صفیې حیرانه شوه، چې دا ځوک راته ښیي، له عبدالجبار څخه یې وپوښتل:

څوک؟

عبدالجبار وویل:

هغه سلیم ښیم، چې هغه نجلۍ راولي.

صفیې وویل:

هغه خو مخکې راغلی خو وایي، چې زه ستړی یم، نه شم ورتلای، عبدالجبار دې ورشي.

عبدالجبار اسوېلی وویست بیا یې صفیې ته وویل:

سمه ده! ته درځه زه، خپل اودس کوم، بیا ځم چې هغه خره راولم.

صفیې وخندل بیا لاړه، عبدالجبار هم پورته شو، تشناب ته ولاړ، هلته یې اودس وکړ، بیا نور د درېمو مکرویانو په لوري ولاړ، پنځه کم څلور بجې به وې، چې هلته ورسېده، نو د اتم بلاک سره ودرېده، چې څلور بجې او شل دقیقې شوې، ملکه راغله دته یې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

په وخت باندې ثابت يې.

عبدالجبار په غوصې سره وويل:
خو تاسې انګرېزان دومره په وخت باندې ثابت نه ياستئ.

ملکه په خندا شوله، په خندا کې يې وويل:
د يوه افغان له خولې، چې بيا هغه هم يو طالب ده، دا خبره چې اورم، ډېره جالبه ده، رښتيا يوه پوښتنه هغه دا:

د حزبيانو او جمعيتيانو د جګړو اور چا ډېر تود ساتلی وؤ، کومو بهرنيو هيوادونو يې لګښت ورکاوه، او په دوئ کې مهم کسان څوک وؤ، چې د هغوئ له امله يوې ډلې هم ماته نه خوړه.

عبدالجبار وويل:
دا پوښتنه له ښاغلي جان وييک څخه وکړه، هغه د دې په ځواب ښه پوهېږي.

ملکه حيرانه شوه، بيا يې عبدالجبار ته  وويل:
ته هغه څه پېژنې؟

عبدالجبار وويل:
نه يې پېژنم، خو زمونږ ملګرو ويل چې: ډېر منافق شخصيت ده، د سي آی اې مشر ده.

ملکې بيا وويل:
خو زما د پوښتنې ځواب دې رانه کړ.

عبدالجبار وويل:
اصل کې خبره داسې ده، چې کله د ډاکټر نجيب حکومت په ختمېدو شو، نو ډاکټر نجيب غوښتل، چې افغانستان پرېږدي او په الوتکه کې هند ته ولاړ شي، خو جنرال دوستم، د هغه مخ ونيوله او ورته يې وويل:

چې ته نشې کولای افغانستان په داسې حال کې پرېږدې، افغانستان دې ټول خراب کړ، اوس ته چېرې تښتې؟

بيا نو ډاکټر نجيب ځان د ملل متحد دفتر ته ورساوه، دا په داسې حال کې وؤ، چې تر دې څو ورځې پخوا زما هغه ملګري چې ما درته وويل، چې په حزب اسلامي کې وؤ، هغه هم د خاصو استخباراتو او د خاصو استخباراتو د عملياتي کوماندو په ډله کې، هغه غوښتل چې له ډاکټر نجيب الله سره وګوري، خو ډاکټر نجيب هغه کس ته چې دا خبره يې تر ډاکټر نجيب پورې رسولې هغه ته يې ويل ول:
زه سبا ته مسکو ته يو سفر لرم، چې بېرته راغلم، بيا به حتماً ورسره ګورم، خو کله چې بېرته راغی نو حالات بدل ول، نور هغه کس هم نه شو کولای چې ورسره وګوري او ډاکټر نجيب هم دې ته چمتو شو، چې خپل حکومت نور

ketabton.com - The Digital Library

پاخونکوؤنکو (مجاهدینو) ته وسپاري، دی د ملل متحد په دفتر کې وؤ، چې حزبیان او جمعیتیان په کابل را دننه شول، کابل کې سم چور ګډ وؤ، چا موټرونه وېستل، چا ټانګونه او چا طیارې، هېڅ کس په هېڅ شي باندې صرفه نه کوله، شورای نظار له سرای شهزاده څخه پیسې او سره پټ کړل، خو حزبیانو بیا له کارته نو، شاه شهید او ځینو نورو سیمو څخه بخاری، دروازې، کړکۍ، چپرکټونه او داسې نور چور کړل، د دوستم ډلې بیا، د یوې قالینې لپاره لسګونه کسان هم ووژل، ځکه خو یې د ګلم جم نوم هم خپل کړ، تر دې وخته پورې ټولو بې له دوستم څخه او حزب وحدت څخه له امریکې څخه مصرف او وسلې اخیستې، خو جمعیتیانو او نظاریانو د واک د لاسته راوړلو لپاره د روسیې خواته ور ودانګل، نو دا جګړه، بیا د مسکو او واشنګټن تر منځ شروع شوه، دا ټول مشران لاړل په مکې یې روغه هم وکړه، خو چې کله بېرته دلته راغلل، نو راکټونه شروع شول، که په دې جګړه کې یا مسعود نه وای او یا هم زرداد نو بیا جګړه یو طرفه کېده، خو دوئ د اور هغه لمبې وې، چې اور په دوئ باندې تازه وؤ.

که لنډ مثال درکړم، دوستم نور ختم وؤ، خو چې کله یې حکمتیار او زرداد شاته ودرېده، نو بیا یې یوه نوې ساه واخیسته.

ملکې وپوښتل:
کابل د چا په لاس ړنګ شو؟

عبدالجبار وویل:
د ټولو په لاس، که یو وایي چې ما نده وران کړی نو بیا بد کوي او ...خوري همدوئ ټول د کابل په ړنګېدو کې ښکېل ول، هو رښتیا د هغې کلمې لپاره ښښنه غواړم، فکر مې نه وؤ!

ملکې وویل:
ستا هغه ملګری اوس څه کار کوي؟ که چېرې هغه په حزب کې ده، هغه هم په خاصو استخباراتو کې، نو بیا خو ستاسې دښمن ده او که نه ده، نو بیا څه کار کوي.

عبدالجبار وویل:
په هغې ورځ چې حزبیان او نور کابل ته راننوتل، دی او دده قومندان، سره له خپلو کسانو لاړل، وزارت داخله یې ونیوله، هلته کسان کم ول، بله خبره دا وه، چې باید یې لږ نور ځایونه هم نیولي وای، نو د ده قومندان ده ته وویل:
هغه جیپ درسره واخله اتمې حوزې ته ولاړ شه، هلته زما کسان دي، هغوئ بې له تاڅخه ثوک نه پېژني، نو ته ورشه، درېش یا څلوېښت کسه دلته درسره راوله.

زما ملګری لاړ، چې کله سیاسنګ ته ورسېده، نو ویې لیدل چې دا موټرونه دي، چې د سیاسنګ له نقلیې څخه وېستل کېږي او تښتول کېږي، دی لاړ له اتمې حوزې څخه یې څلوېښت کسان په درېو موټرونو کې کېنول، خپله په خپل جیپ کې کېناسته او راساً د وزارت داخلې خواته ورغی، هلته یې خپل یوه کس ته وویل:

ketabton.com - The Digital Library

انجینره! هغه سپینه پاڼه درواخله! سم شو، قلم هم درواخله! اوس نو ولیکه:

ښاغلی قومندان صیب، د دې لپاره چې ما فکر کاوه، د خدای د رضا لپاره او د هیواد د آزادۍ لپاره مې جهاد کولو، نو ټوپک مې راخیستی وؤ، له خپل جېب څخه مې په جهاد کې مصرف کړی، خو د مجاهدینو او د جهاد له شتمنۍ څخه مې کله مصرف نه ده کړی، خو زه چې اوس ګورم، نو زمونږ وروښه جهاد نه کوي، بکلي غلا کوي، زه نور نه غواړم چې په دې غلا او خیانت کې شریک شم، ځکه خو سر له نن څخه خپله استعفاء وړاندې کوم او خپل ټول کسان هم تاته سپارم، سر له نن څخه ته د هغوئ قومندان یې، هغوئ پوهېږي او ته، ته پوهېږې او هغوئ، هلیه مند یم چې زما په کسانو باندې پوره پام وکړې، ځکه هغوئ ډېر وفاداره او نېک کسان دي او له خپلو کسانو مې هم غواړم چې خپل هیواد ته خدمت وکړي. په درناوي محمدتواب.

لاندې ورته د قومندان نوم ولیکه او بیا د امضاء ځای پرېږده، تر هغه وروسته منظور شو ولیکه،چې دا دې ولیکه ولاړ به شې دا خط به د قومندان مخې ته کېږدې او ورته وبه وایې چې تواب قومندان ویل:

دا ژر تر ژره امضاء کړه.

انجینر وویل:

خو قومندان صیب!

زما ملګری یې په خبره کې ورلوېده:

ډېرې خبرې مه کوه، چې څه درته وایم هغه وکړه.

انجینر هم ورغی او همداسې یې وکړل، قومندان هم امضاء کړ، بیا یې ورته وویل:

دا خط د څه شي ده، چې دومره مهم او اړین وؤ.

انجینر ورته وویل:

د دې خط مهمتیا به قومندان صیب درته ووایي.

دی چې د باندې لاړه، زما ملګری ورغی او قومندان صیب ته یې وویل:

مولوي صیب زه د دې لپاره جهاد ته راغلی وم چې د اللّٰه تعالی په لاره کې جهاد وکړم، خو اوس زمونږ جهاد غلا ته واوښت، نو نور ته پوهېږې او جهاد دې، زما کړی جهاد دې خدای قبول کړي، ته پوه شه او کار دې.

خو قومندان یې ورته وویل:

داسې نه شې کولای، تر څو چې زه ستا د استعفاء سند امضاء نه کړم، تللی نه شې.

زما ملګري ورته وویل:

ketabton.com - The Digital Library

ته همداسې فکر کوې؟ خو ما دغه ده خپل سند دربانديې امضاء کړی ده، زه لاړم، یوه کاپي یې درته رالېږم، بیا دباندې لاړ، څه په زحمت باندنې یې کاپي کړه او کاپي یې ورلېږله، دی لاړه ترڅو نور کور ته ولاړ شي، خو چې کله هغه لاړه نو د هغه ټول کسان هم له هغه ځایه څخه ولاړل او خپلې استعفاء پاڼې یې بې له امضاء هلته پرېښودې.

بیا امارات اسلامي هم ورته د استخباراتو په برخه کې وړاندیز وکړ، خو هغه ورته وویل:

نور زه په داسې ډلو کې کار نه کوم، گر څه اوس هغه هم، په دې باندې ډاډمن ده، چې امارت او حزبیان ډېر توپیر لري، خو بیا هم له مونږ سره نه شو او اوس په جوی کني (د ویالې د کیندلو کار) کې کار کوي.

دواړه تر ډېره غلي ول، بیا عبدالجبار وویل:

اوس نو را ورسېدو، باید ښکته شو، خو لږ صبر وکړه، زه موټر تر پارکنگه رسوم، هلته به نږدې له کور سره ښکته شې.

چې کله دواړه ښکته شول، هلته یو سپی پروت وؤ، عبدالجبار له خپل جېب څخه دوه چاکلېټه را ووېستل، یوه یې پوستکې (پاکټ) لاره او بل یې نه، دواړه یې داسې په منځکه ورغورځول چې ملکه پرې پوه نه شي، سپی چې له ډېره وخت څخه وږی وؤ، نو چې څنگه یې چاکلیټ ولید رامنډه یې کړه او په چاکلېټ یې برید وکړ او ویې خوړ.

عبدالجبار وویل:

رښتیا تا له ما څخه یوه پوښتنه کړې وه، گرڅه ما تاته ځواب هم درکړی وؤ، خو بیا هم غواړم چې پوره ځواب درې ترلاسه کړې، نو ته ووایه که چېرې تا له دې دوؤ چاکلېټو څخه خوښ کړي وای، نو کوم یو دې خوښاوه؟

ملکې وویل:

زه خو له زمکې نه چیشي نه راپورته کوم، خو که راپورته یې هم کړم، نو هغه د پوټکي والا پورته کوم.

عبدالجبار وویل:

تا دا چاکلېټ د دې لپاره ومانه، چې پاک وؤ، که مې قسم هم درکړی وای چې هغه بل خولې ته واچوه، نه دې اچاوه، ځکه هغه مردار وؤ، زمونږ ښځې هم همداسې دي، که حجاب ولري، نو بیا به مونږ ډېر په خوشحالۍ هغې ته په کور کې ځای ورکړو او که نه نو بیا به د سپیو ښکار گرځي او سپیو له خوا به بریدونه پرې کېږي.

ملکې وویل:

خو زما نه په یادېږي، چې ما دا پوښتنه له تا څخه کړې وي.

عبدالجبار وویل:

څه پوه شم، ما همداسې فکر وکړ.

ketabton.com - The Digital Library

په همدې خبرو کې دواړه کور ته رسېدلي ول، ملکه لاړه او د عبدالجبار بېرته ورګرځېد او د جومات خواته روان شو، په جومات کې يې لمونځ وکړ، بيا بېرته کورته راغی.

ketabton.com - The Digital Library

## که دوه یا درې ورځې نور درسره وګرځې پرې مینېږې

ملکه چې کله کوټه ننوته، نو صفیې ورته وویل:
ورور خو به مې نه وي درته په غوصه شوی؟

ملکې وویل:
نه! ډېر ښه هلک ده، ښه پخه درجه او معلومات هم لري او ډېر هوښیار هم ده، ښه اخلاق هم لري، خو چې په طالبانو کې نه وای.

صفیې ورته وویل:
د هغه سترګې ډېره ستره جاذبه لري، داسې نه شي، چې تا امریکې ته له بېرته ګرځېدو څخه منع کړي؟

ملکې وویل:
ولې؟ ستا ورور به مې امارات اسلامي ته وسپاري که څه؟

صفیې ورته وویل:
نه هغسې مې نه ویل، زما ورور داسې سترګې لري، چې کومه نجلۍ دوه، یا درې ځله ورته ځیره شي، بیا نو زما په ورور باندې مئینېږي.

ملکې وویل:
نه داسې فکر مه کوه، زما زړه خو څه له اوبو څخه نه ده، جوړ چې هر څوک وکولای شي، چې لاس ته یې راوړي او نه هم ستا ورور اوبه دي چې هرڅوک ورته اړتیا لري.

صفیه موسکۍ شوه بیا یې ملکې ته وویل:
ته خو یې اوس نه منې، خو یوه ورځ به زما خبرې در په یاد شي، نو ځکه فکر دې وي، چې بیا ونه وایې چې ویلي دې نه ول.

صفیه له کوټې څخه ووته، ملکه یواځې پاتې شوه، نو ملکه هم د سوچونو په نړۍ باندې ډوبه شوه، د عبدالجبار په اړه یې فکر کاوه. څه ښکلې ځواني لري، یوسل او نوي سانتي قد، غټې غټې خړې سترګې، جیګه پوزه، کوچنۍ خوله، توري او اوږدې څڼې چې لږ یې تر اوږو لوړې وې، د شونډو د پاسه یې تور اوږده بریتونه او په مخ باندې یې ښکلې توره ږیره، بیا به یې له ځان سره وویل:
خو دی طالب ده، حتیٰ د خپل پلار سپارلو ته هم چمتو ده، نو ما خو لا څه کوې، خو ولې مې اوس نه ورته تسلیموي؟

په همدې سوچونو کې وه، چې صفیه راغله، ویې ویل:

ketabton.com - The Digital Library

څنگه چورتي يې جانانه؟ د څه په اړه فکر کوې؟ هسې ما ويل ډېر فکرونه مه کوه، سبا ته روژه ده، اوس چاى وڅښه، خداى خبر سبا دا وخت د چاى وېشول وويني، تر ماښام به بيا وږې او تږې گرځې، هو رښتيا ما ويل چې ډېر چورتونه مه وهه، بيا دې ويښتان سپينېږي.

ملکې وويل:

د هېڅ په اړه مې فکر نه کاوه، هسې ما په دې په اړه، فکر کاوه چې زما د خط ځواب به کله را ورسېږي؟ او زه بايد تر هغو څه وکړم؟

صفيې ورته ويل:

چې څه دې خوښه وي، هغه کوه، زه به تاته څه ووايم، زه خو هسې هم ستا په کارونو باندې نه پوهېږم.

ملکې وويل:

زما زړه کله وايي، چې: خپل کار ته دوام ورکړم، ترڅو د خط ځواب راشي او کله راته وايي چې بايد تر خط پورې کرار ځان واچوم او ويده شم.

صفيې ورته وويل:

بېگاه ته ښه سوچ پرې وکړه، هسې سبا ته بيا رخصتي ده، ځکه روژه ده، زما ورور به ځکه دندې ته ځي، ځکه نور ټول کارکوؤنکي رخصت دي، د هغوئ په ځاى باندې زما ورور هلته کار کوي.

دواړو چاى څښه د صفيې مور هم راغله او له دوئ سره يې چاى وڅښه، بيا يې کيسې کولې تر څو ماښام شو، ماښام صفيه او مور يې د اودس او لمانځه لپاره پاڅېدل، خو ملکه يواځې پاتې شوه، نو بيا په سوچونو باندې لاهو شوه، خو دا ځل يې د عبدالجبار په اړه فکر نه کاوه، بلکې د اسلام او د هغه د عجيبو قوانينو په اړه يې فکر کاوه، کله به يې له ځانه سره وويل، همدا ريښتني او سم قوانين دي او ډېر گټور هم دي، خو کله به يې ويل، نه دا په فلاني ظلم ده، په نر ظلم ده، په ښځه ظلم ده...په همدې کې د صفيې مور راغله ملکې ته يې وويل:

لکه چې امريکې ته تللې يې؟

ملکې ټکان وخوړ ويې ويل:

هغه تاسې چې لاړئ، ما د خپل ځان په اړه فکر کاوه، ما ويل کېداى شي، چې څو ورځې وروسته زما د خط ځواب راکړي، خداى خبر چې هغه کې به څه ليکلي وي، او له ما څخه به څه غواړي؟

د صفيې مور خديجې وويل:

ډېر سوچونه مه کوه، بيا ژر زړېږې.

ملکې وويل:

ketabton.com - The Digital Library

صفیه څه شوه؟

خدیجې وویل:

هغه تللې ده، چې د شپې ډوډۍ تیاره کړي، چې کله یې ډوډۍ تیاره کړه، نو بیا به راشي.

چې ډوډۍ تیاره شوه، نو ټولو ډوډۍ وخوړه، بیا نو ملکې خدیجې ته وویل:

ته خو په خط پوهېږې؟

خدیجې وویل:

هو! ولې؟

ملکې وویل:

هسې ما ویل یو څو کتابونه واخلم، بیا یې په مطالعه کې مرسته راسره وکړه، ځکه زما پښتو خط ویل زده دي، خو په ډېرو ځایونو کې ستونزه لرم.

خدیجې وویل:

ته څه ډول کتابونه غواړې، ادبي، سیاسي او که کوم بل ډول؟

ملکې وویل:

نه ګرانې! نه سیاسي او نه هم ادبي! بلکې زه غواړم، چې اسلامي کتابونه ووایم.

خدیجې وویل:

لکه چې غواړې مسلمانه شې، که څه؟

ملکې وویل:

ته همداسې فکر کوه، چې کله مې کتابونه ولوستل او مفهوم مې ترې واخیست بیا به ورسره ګورو.

سبا سهار چې کله عبدالجبار وظیفې (دندې) ته تلو، نو ملکې غږ پرې وکړ، عبدالجباره! ودرېږه! عبدالجبار له خپل موټر سره په تمه وؤ، چې ملکه ډېره په بېړه راغله نفسونه یې وهل ډېره ستړې شوې وه، عبدالجبار ته یې وویل:

یو څو اسلامي کتابونه درسره راوړه، ځکه چې زه غواړم مطالعه یې کړم، کېدای شي مسلمانه شم.

عبدالجبار وویل:

سمه ده! زه به کتابونه درته راوړم، خو داسې مه وایه چې کېدای شي مسلمانه شم، زه ډاډمن یم، که ته زما راوړي کتابونه ولولې نو خامخا مسلمانېږې!

ملکې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

هغه به نو بیا وروسته ګورو! اوس چې یې څومره پیسې کېږي راته ووایه، زه یې درکوم.

عبدالجبار وویل:

داسې فکر مه کوه، ځکه زه غواړم چې دا کتابونه درته ډالۍ کړم او د ډالۍ پیسې هېڅ څوک نه اخلي.

ملکې وویل:

مننه! خدای په امان! بای بای!

عبدالجبار وویل:

دا خدای په امان دې سم ده، بای بای دې ځان سره وساته!

ملکې څه ونه ویل:

مخامخ د کور په لوري روانه شوه، کور ته دننه شوه، صفیې وویل: راځه چای تیار ده!

ملکه لاړه په دسترخوان باندې کېناسته! چې ویې کتل صفیه او خدیجه یې نه خوري، نو له هغوئ څه یې وپوښتل:

تاسې یې ولې نه خورئ؟

خدیجې ورته وویل:

تر یوې میاشتې پورې مونږ نور د ورځې له خوا نه ډوډۍ خورو او نه هم چای څښو.

ملکې وویل:

نو چې تاسې یې نه خورئ زه یې هم نه خورم.

عبدالجبار لاړه خپل ځای ته یې ځان ورساوه، هلته د هغې زړې جېبټ خواته نږدې ورغی چې له ډاکټر نجیب، حزب او جمعیت څخه پاتې شوې وه، ښه یې لاس پرې وواهه، زړه یې ووُ، چې پورته یې کړي، نظاریان او د هغوئ ټول ولایت د سرو وینو په ویالو باندې بدل کړي، خو بیا یې په مغزو کې یوه خبره وګرځېده، هغه دا چې امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد ورته ویلي ول، جباره! داسې پام مه کوه، چې موږ حکومت په لاس کې لرو د نړۍ یا حتیٰ دیوه کلي حاکمان او ټولواکان یو، بلکې داسې فکر وکړه، چې دغه کلی ستا په اوږو باندې بار ده، نو ځکه ډېر پام کوه چې په چا باندې ظلم ونه کړې.

بېرته پښېمانه شو، له ځان سره یې وویل:

که چېرې زمونږ د مشر زړه وي، چې پنجشېر ونیسي، نو یوه ورځ کې یې نیسي، خو مشر یې د پاکستان په وینا نه نیسي.

ketabton.com - The Digital Library

تر سبا پورې همغلته وؤ کله به ویښ وؤ او کله به هم ویده وؤ، بیا چې کله سبا اووه بجې شوې د ده هغه ملګرې چې پرون د رخصتۍ له امله کورنو ته تللي ول، بېرته را وګرځېدل، د همدې لپاره دی هم له هوایي ډګر څخه را ووت، د پلخشتي جومات په خوا باندې روان شو، هلته چې ورسېده، د جومات شاته تېر شو، له یوه دوکاندار (هټیوال) څخه یې پوښتنه وکړه: سیرة النبي (ص) الرحیق المختوم شته؟

هغه ورته وویل:

له ماسره خو نه شته، ورشه هغه بل سر کې د ګلاجان دوکان ده، کېدای شي له هغه سره وي.

عبدالجبار لاړه د ګلاجان دوکان ته، له ګلاجان څخه یې پوښتنه وکړه:

وروره! سیرة النبي (ص) الرحیق المختوم درسره شته؟

ګلاجان ورته وویل:

ملا صیب راسره شته، خو پیسې درڅخه غواړم.

عبدالجبار په غوصه وویل:

ولې داسې کوم دوؤس ملا هم درته راغلی وؤ، چې په خوشې یې درڅخه غوښتی وي او یا یې د ګټې نه کولو درته ویلي وي؟

ګلاجان وویل:

وروره! دلته د ورځې دوه او درې داسې ملایان راځي، نو ځکه خو مې مخکې تر مخکې درته وویل.

عبدالجبار ورته وویل:

ماته کتاب راکړه! هو ربښتیا سبا ته  حوزې ته ورشه ورته ووایه چې عبدالجبار آخوند ویل، چې راسره مرسته وکړه، بیا خپله ستونزه ورته ووایه، ان شاء الله مرسته درسره کوي، د دې لپاره چې مرسته درسره وکړي.

دوکاندار وویل:

هه! دا واخله! دا سیرت النبي (ص) الرحیق المختوم ده.

عبدالجبار وویل:

هو ریښتیا ته یو کاغذ راکړه، زه به په هغه باندې امضاء وکړم، بیا یې حوزې ته یوسه هغوئ تاته یو خط درکوي، چې په هغه خط باندې ته کولای شې چې د مفت خورو مخه ونیسې.

عبدالجبار په پاڼه باندې ۲۳۸۸۴۵۰ ولیکل او بیایې امضاء (لاسلیک) وکړ، دوکاندار ته یې ورکړ، بیا نو د کور په لورې روان شو، کورته چې ورسېده، ملکه لا په کور کې وه، ځکه د عبدالجبار ورور سلیم په کور کې نه وؤ، ملکه ده ته انتظار وه، تر څو دی یې چهلستون ته ورسوي، عبدالجبار چې څنګه کور ته ولاړ، خور یې ورته وویل:

ketabton.com - The Digital Library

وروره! که دې خوښه وي، نو له ملکې سره به چهلستون ته ولاړ شې، یعنې هغه به چهلستون ته ورسوې!

عبدالجبار ورته وویل:

ولې هغه رزیل چېرته ده؟

صفیې وویل:

هغه له مور سره د ترور کره تللی ده، پلار مې لږ څه ناروغ وؤ، خیر ده ته ورسره ولاړ شه.

عبدالجبار اسوېلی وویست بیا یې صفیې ته وویل:

سمه ده! ته ورته ووایه چې ژر کوه، زه په موټر کې ورته انتظار کوم.

صفیه لاړه او ملکه یې موټر ته ورولېږله، ملکه موټر ته پورته شوه، بیا یې په عبدالجبار سلام واچاوه، تر سلام وروسته یې له عبدالجبار څخه وپوښتل:

څنګه چل ده، ډېر غمجن ښکارې، لکه چې کتاب دې پیدا نه کړ؟

عبدالجبار وویل:

تشویش مه کوه، پیدا مې کړ، هه! دا واخله، دا ولوله، ډېر ژر به مسلمانه شې.

ملکې له ځان سره وویل:

همداسې فکر کوه (ګوړه ګوړه وایه، خوله به دې خوږه وي).

عبدالجبار ورته وویل:

رښتیا هغه ستا د خط ځواب را ورسېده او که نه؟

ملکې وویل:

نه! تر اوسه نه ده را رسېدلی، خو ډېر ژر به را ورسېږي.

دا کارونه تر څو ورځو روان ول، کله به عبدالجبار ملکه تر ځینو ځایونو رسوله او که به هم سلیم، خو خبره اوس داسې وه، چې کله به صفیې عبدالجبار ته د ملکې د رسولو ویل، نو دی به نور نه په غوصه کېده، ملکې هم د سیرت النبي (ص) ډېره برخه لوستلې وه، ډېر ځایونو ته به په ژړا شوله.

ketabton.com - The Digital Library

# د احسان الله احسان د بیان تأثیر

یو ورځ چې د جمعې ورځ وه،ملکه د جنرال قدرت کره وه، مولوي احسان الله احسان هم هغه جومات ته د تبلیغ لپاره ورغلی وؤ، چې عبدالجبار به هر ورځ هلته جمع کوله، جومات کې مولوي احسان الله احسان بیان کاوه، هغه په خپل بیان کې دا کیسه کوله او ملکې غوږ ورته نیولی وؤ:

یوه ورځ یو سپین ګیری د رسول الله (ص) مبارک حضور ته راغی، حضرت خپله مبارک لور حضرت فاطمة الزهرا په غېږ کې ونیوله او ښکل یې کړه، د سپین ګیري په سترګو کې اوښکې راغلې، بیا یې رسول الله (ص) ته وویل:

یا رسول الله ما ډېره لویه ګناه کړې ده، نه پوهېږم چې خدای تعالیٰ به ما وبخښي او کنه؟

رسول الله (ص) ورته وفرمایل:

وایه تا په خپل ځان که په بل چا ظلم کړی؟

سړي وویل:

یو څو کاله زه له کوره بهر ومه، زما یوه لور پیدا شوې وه او زما بي بي به کور کې په پټه ساله، زه چې کله له سفر څخه راوګرځېدم، زما بي بي ډېر په بې شانه توګه زما خدمت کولو، راته یې وویل:

زما په زړه کې یوه خبره ده، خو دا ویلی نه شم، ځکه ډېره وېرېږم.

د دې په دغې خبرې باندې مې ډېر شکونه په زړه کې پیدا شول، ورته مې ویل:

خبره وکړه، ډېر شکونه مې په زړه کې پیدا شول.

مونږ لا په دې خبرو لګیا ولو، چې یوه ډېره ښکلې نجلۍ کوټې ته را دننه شوه، زما خواته چې راغله په خندا شوه، ما له خپلې بي بي څخه وپوښتل چې دا څوک ده؟

هغې وویل:

دا ستا لور ده، ته چې سفر ته تللی وې، دا پیدا شوې ده.

له ډېرې غوصې نه راباندې خولې راغلې، خو په ځان باندې مې ښکاره نه کړه، لور مې خپل ځان ته نږدې کړه، خو په زړه کې مې پلانونه ورته جوړل، په داسې حال کې چې زړه مې نه کېده، ځکه زما لور ډېر بې شانه ښایسته وه، خو څه مې کړي وای مجبوره وم؟

څو ورځې چې تېرې شوې، لور مې له ماسره بلده شوه، زما په غېږ کې به پرته وه، زما په ږیره به یې لاسونه وهل، له ما څخه به یې سوالونه کول، هغې له ماسره په ریښتیا مینه کوله، خو ما د مرګ جال ورته غوړاوه، یو ژوره څاه مې ورته چمتو کړه، له کور نه به پټ د صحرا وخواته تلم او هلته به مې څا کېندله، کورته راغلم لور مې په غېږ کې پورته کړه، لور

ketabton.com - The Digital Library

مې هم له مانه لاسونه تاو کړل، ښځې ته مې بهانه وکړه، ما ويل د ترور کره يې بيايم، بيا مې د ښاه په لوري حرکت وکړ، په لاره کې زما لور په وړه او خوږه ژبه راته وايي، باباجانه! مونږه د ترور کورته په کومه لاره ځو؟

ما ورته وويل:

زما لورې! نن دې بل ځاى ته بيايم.

کله چې د ښاه خواته نږدې شوم، له ډېرې غوصې څخه مې اندامونه رېږدېدل، لور مې هلته پرېښوده، د دې لپاره چې وګورم، څنګه چل ده، په ښاه کې خو به څه ستونزه نه وي، د ښاه خواته ورغلم، لور مې راته په وړه خوله وويل:

پلاره! نږدې مه ورځه داسې نه شي، چې ښکته پکې ولوېږې!

راغله چې ما کلک ونيسې، د همدې لپاره يې له مانه لاسونه تاو کړل، خو ما يې لاسونه له ځان څخه خلاص کړل او دا مې ښاه ته ور غورځوله، له پاسه مې خاورې پرې اچولې.

لور مې راته ويل: پلاره! ما له دې ځايه وباسه! بيا به کله هم د ترور کورته لاړه نه شم.

ما ورته وويل:

زه مجبور يم، خپله ناکامي په تا باندې پټومه.

خو زما زړه دومره کلک وؤ، چې هېڅ يې په کيسه کې نه وم، بس يواځې مې د رواجونو پروا کوله، نو ته اوس ووايه الله به ما وبښي، آيا جنت به په ما باندې مردار کړي؟

پاک رسول (ص) ورته وفرمايل:

ته توبه وباسه خداى رحيم، کريم، عظيم، ستا توبه به قبوله کړي.

ملکې چې دا کيسه واورېده، زړه يې را ډک شو، په سترګو کې يې اوښکې راغلې نور يې ژړا نه تم کېده،له ښکلو شنو سترګو څخه يې سپينې ملغلرې د ګرېوان خواته روانې ولې او په سپين مخ باندې يې مزل کاوه، نور يې زړه کې دا خبره ګرځېدله، چې ريښتيا هم د اسلام دين ښځو ته ډېر حقونه ورکړي، حتیٰ له سړيو څخه يې ډېر حقونه ورکړي دي، سړي په دې باندې مکلف دي، چې د کور خرچه برابره کړي، د ښځې د خوراک، کاليو، سورلۍ او ځينې نورو اړتياوؤ خرچه په نر باندې ده، حتیٰ که ښځه ونه غواړي چې خپل ماشوم ته شودې (شيدې) ورکړي، نو دا حق هم لري، خو زمونږ د هيواد په قانون کې ښځو ته آزادي ورکول شوې، خو اصلاً همدا آزادي زمونږ د تباهۍ سبب شوې ده، ځکه د همدې آزادۍ له امله ښځې مجبوره دي، چې خپله خرچه په خپله پوره کړي، ښځې کولاى شي، چې بې د خاوند له اجازې څخه بې له محرم څخه او بې له کوم بل مهم لامل څخه له کوره څخه ووځي، د همدغه کار له امله يوازې زمونږ هيواد کې په کال کې زرګونو ښځو باندې جنسي تېرى کېږي، ښځې حمل اخلي، خو د ماشوم پلار نه وي معلوم، بيا د دې د مخ نيوې لپاره دوه لارې شتون لري، اوله دا چې ښځه د خپل وجدان غوږونه کاڼه کړي او خپل ماشوم په خپله

ketabton.com - The Digital Library

خپله کې له منځ یوسي او دوهمه لاره دا ده، چې ښځه د دې لپاره چې خپل ماشوم وساتي، نو بیا باید یو کس دوکه کړي، له یو داسې کس سره واده وکړي، چې له هغه څخه یې ډېر بد راځي، خو د دې لپاره چې د خپل ماشوم لپاره پلار پیدا کړي، نو دا کار هم زغمي.

نور یې جزبه دومره زیاته شوې وه، چې هېڅ طاقت یې نه راته کله به د کوټې یوې خوا ته تله او کله بلې خواته بلآخره یې وویل:

نه داسې نه کېږي، زه نه شم کولای دومره په آسانۍ سره له خپل دین څخه واوړم، زه باید په خپل دین باندې کلکه پاتې شم، که هر څنګه وي، زه خپل دین نه پرېږدم.

دا په همدې خبرو باندې لګیا وه، صفیه کوټې ته راغله. صفیې ملکې ته وویل:

څنګه چل، له ځان سره خبرې کوې، لېونۍ شوې یې او که مئینه شوې یې؟

ملکې ټکان وخوړ، ژر یې له ځانه سره سوچ وکړ، بیا یې د صفیې په ځواب کې وویل:

نه نه! ښځې هم مئینېدای شی؟

صفیې وویل:

پوهېږې د ملا جان محمد ښځه وایي:

زه په خپل خاوند باندې مئینه شوې وم، هغه به له ما څخه ځان لرې لرې کاوه، ماته به یې کتل خو چې کله به زما ورته پام شو، ژر به یې مخ واړوه، ما فکر هم نه وؤ کړی چې د هغه مینه به له ما څخه ډېره وي، خو خبره همداسې وه، بیا تر ډېر جنجال وروسته ما او ملاجان (مولوي جان محمد) واده وکړ.

ملکې وویل:

ولې کیسه نه راته کوې؟

صفیې ورته وویل:

د ملاجان ښځې  ګلالۍ وویل:

یوه خو کیسه ډېره اوږده ده، بله خبره داسې ده چې ملاجان هم راته ویل ول، چې چا ته خپل کیسه ونه کړم.

ملکه لاړه د کړکۍ څنګه ته ودرېده او  ملا احسان الله احسان وروستیو خبرو ته یې غوږ ونیوه، هغه ویل، په یونان کې به کنیزو دا حق نه لاره چې ټیکری په سر کړي، حجاب او چادري خو لا څه کوې؟ اوس مونږ غواړو چې ستاسو ښځو نه ملکې جوړې کړو، خو ستاسو ښځې او حتیٰ تاسې هم غواړئ چې له خپلو ښځو څه کنیزې جوړې کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

ملکې چې دا خبره واورېده او ویې لیدل چې نور د ملا احسان خبرې خلاصې شوې، راغله له صفیې سره کېناسته، او خبرې یې ورسره کولې.

یوه بله ورځ بیا ملکې غوښتل چېرې ولاړه شي، نو له صفیې څخه یې وغوښتل چې عبدالجبار ته ووایي چې دا ورسوي، صفیې عبدالجبار ته وویل، بیا بېرته ملکې ته راغله ورته یې وویل:
عبدالجبار آخوند تاته په تمه ده.

ملکې چې دا خبره واورېده، نو ژر یې ځان چمتو کړ، خپل لوی ټیکری یې په خپل سر په داسې ډول واچاوه، چې مخ یې ببخي نه ښکارېده، د باندې ووته چې موټر ته رسېده، عبدالجبار هم ورورسېده، دواړه په موټر کې سپاره شول، ملکې ته د ګلالۍ هغه خبره ورپه یاد شوه، ما چې به ورته پام شو ده به راکتل، خو چې ما به وروکتل د به مخ بلې خواته کړ، ملکې چې عبدالجبار ته پام ونیوه، نو عبدالجبار په آینه کې دې ته کتل، ملکې هم چې دا ولیدل، نو مخ یې لوڅ کړ، عبدالجبار لومړي ښه ورته ځیر شو، بیا یې وویل:
څه کوې؟ ولې دې مخ لوڅ کړ؟ ما ګنهکاروې که څه؟

ملکې وویل:
اول خو دې ښه راته کتل او اوس وایې چې ما ګنهکاروې؟

عبدالجبار وویل:
په اول نظر کې ګناه نه شته، خو په دویم نظر باندې سړی ګنهکارېږي.

ketabton.com - The Digital Library

# د مينې امکان

ملکه چې بېرته کور ته راستنه شوه، نو په کور کې يې په سوچونو باندې شروع (پيل) وکړ، بس دا وه او سوچونه ول، بلآخره ډوډۍ وخوړل شوه، چاى وڅښل شو، د خوب وخت شو، ملکه او صفيه به په يوې کوټې کې نه ځملاستلې، خو په دې شپې صفيې خپل پلار ته وويل:

زه غواړم چې له ملکې سره ځملم، پلار يې ډېره هڅه وکړه، چې يې منع کړي، خو د صفيې ډېر ټينګار چې يې وليد نو اجازه يې ورکړه، ملکې سوچونه وهل، کله د عبدالجبار په اړه او کله هم د مسلمانېدو په اړه، بلآخره خوب يوړه، ويده وه خو په خوب کې يې وليدل چې دا يوې دښتې ته ځي، هلته يوه کنده وي، هلته د کندې په څنګ کې تېرېږي، چې په همدې کې يې پښې وښوېږي او کندې ته ورلوېږي، ځان په څنډې باندې کلک کړي، خو بېرته نه شي پورته کېداى، د دې تر پښو لاندې زمرى وي، دا له دې نه هم ډارېږي چې داسې نه شي چې زمرى راباندې راويښ شي، ما به ورخوري، چيغې هم نه شي وهلی ځکه وايي داسې نه چې په دې چيغو باندې دا زمرى را ويښ شي، خو چې د زمري غوږونو ته وګوري په غوږونو کې يې ډېر ختې نښتې وي، لومړى ډېر په کراره سره وايي:

مرسته!

بيا لږ غږ پورته کړي بيا وايي:

مرسته!

بيا چې پوهه شي چې زمرى د دې غږ نه شي اورېداى نو په لوړ آواز وايي:

مرسته وکړئ، هله ژر کوئ!

په همدې چيغو کې وي، چې يو کس د دې خواته راشي، ښايسته طلايي ويښتان يې وي، سور مخ يې وي، چې لږ نوره ورته ځيره شي، نو پوهه شي، چې دا جيزېزس (عيسى عليه السلام) ده، نو هغه ته وايي:
ته خو زمونږ د خداى زوى يې له ماسره مرسته وکړه، که دا زمرى را ويښ شو، نو وبه مې خوري!

جيزېزس ورته وايي:
په يوه خبره پوهېږې؟ زه نه د خداى زوى يم او نه هم له تا سره مرسته کولاى شم، زه به تاته يو کس در وښيم چې مرسته درسره کولاى شي، هاغه وينې هغه تاسره مرسته کولاى شي.

دا چې ورته وګوري يو کس ناست وي، چې غنم رنګه وي، تور بخونې سترګې لري او ښکلې تورې څڼې لري، ډېر ښکلی وي، نو دا له جيزېزس څخه پوښتنه کوي:
هغه څوک ده؟

ketabton.com - The Digital Library

جېرېزس ورته وايي:

هغه وروستی پیغمبر محمد (صلی الله علیه وسلم) ده، چې د هغه له مخه ټوله نړۍ او ټول بشریت پیدا شوی ده، له هغه څخه مرسته وغواړه، هغه له تاسر مرسته کولای شي.

ملکه هغه ته وايي:

له ماسره مرسته وکړه!

هغه ورته وايي:

دا چې ته زما له امت څخه نه یې، زما په زمانه کې هم نه یې، خو زه د ټول عالم لپاره رحمت یم، زما یو امتي به له تاسره مرسته وکړي، بیا هغه عبدالجبار ته ووايي:

ورشه! مرسته ورسره وکړه!

عبدالجبار ښه نږدې راشي او ملکې ته ووايي:

څه ستونزه لرې، راته ووایه حتماً یې حل کوم، ځکه ماته داسې کس امر کړی چې زما زړه، زما ځیګر او زما رهبر ده.

ملکه ورته وايي:

ما له دغې کندې څخه وباسه.

عبدالجبار آخوند هم لاس ورکوي او ملکه له هغه ځای څخه راباسي، دا ورته وايي:

جباره! زه له تاسره مینه لرم، په تا باندې مئینه شوې یم، زه په دې پوهېږم چې ته هم له ماسره مینه لرې خو راته ویلی نه شې.

په همدې کې صفیې غږ پرې وکړ او ورته یې وویل:

ښنګه چل ده، خوب وینې او که ریښتیا په لالا باندې مینه شوې یې؟

ملکه په همدې خبرو راویښه شوې وه، چې د صفیې خبرې یې واورېدې نو دا هم ورشرمېده، ځان یې په خوب واچاوه او د صفیې ځواب یې ورنه کړ، سبا سهار ملکې صفیې ته وویل:

غواړم چې عبدالجبار آخوند وګورم.

صفیې ورته وویل:

خو سلیم په کور کې شته، که غواړې چېرته ولاړه شې، نو هغه به دې ورسوي او که د لالا لیدل غواړې، نو هلته په الماری کې یې انځور شته، هغه وګوره.

ketabton.com - The Digital Library

ملکې وویل:

ټوکې مه کوه! زه غواړم چې عبدالجبار آخوند سره وګورم.

صفیه لاړه چې عبدالجبار ته ووايي، چې ملکه غواړي تا وګوري، خو عبدالجبار وار ړومبی کړ او صفیې ته یې وویل:

غواړم ملکه وګورم!

صفیې وویل:

نه پوهېږم نن څه خبره ده، هغه غواړي تا وګوري او ته غواړې هغه وګورې زه یې درته راولم، ورسره وګوره!

صفیه لاړه او ملکې ته یې وویل:

هغه درته په تمه ده.

ملکه او صفیه دواړه د عبدالجبار خواته ولاړل، د صفیې زړه وؤ، چې دوئ دواړه یواځې پرېږدي، خو عبدالجبار وویل:

ته باید همدلته اوسې.

ملکې وویل:

ماسره مرسته وکړه، نوره ستړې شوې یم، د دې کندې په غاړه نه شم پاتې کېدای داسې نه شي چې دې کندې ته وغورځم.

تر څو عبدالجبار څه ووايي، د دوئ د کور دروازه وټکېده، عبدالجبار ورغی چې ګوري حبیب الله ده، هغه ډېر ورته په غوصه شو، بیا یې ورته وویل:

ته دلته څه کوې؟

حبیب الله وویل:

ما ویل چې لوګر ته ځم، خو یو کار راته پیدا شوی ده، هغه تر سبا مازدیګر پورې خلاصوم بیا لوګر ته ځم.

عبدالجبار بېرته دننه ولاړ، ملکې اوصفیې ته یې وویل:

تاسې خپل مخونه پټ کړئ او هغه بل اپارتمان ته ولاړې شئ، حبیب دلته راغلی ده.

دواړو مخونه پټ کړل، دباندې چې ووتې نو د ملکې سترګې په حبیب باندې ولګېدې، څادر یې له مخ څخه ولېده او حبیب ته یې وویل:

ته؟ تر اوسه چېرې وې؟

ketabton.com - The Digital Library

حبیب وویل:

ته دلته یې؟ پرون مې ټول ښار دریسې لټ په لټ کړ، خو ستا پته مې پیدا نه کړه، ما ویل نن به هم دریسې وګرځم، هه! دا واخله! ستا نتایج دي، زه نور ځم، ځکه دا بده ده، چې زوم دې له واده ښځه مخکې د خسر۔ کورته ورشي.

ملکې خپل نتایج واخیستل، حبیب الله هم روان شو، ملکې عبدالجبار ته وویل:

دی له ماسره په سعودي کې معرفي شو، ده ماته ویلي ول، چې ستا نتایج زه دروړم، اوس یې راوړل، دا خوبه د صفیې کوژدن نه وي؟

عبدلجبار وویل:

هو! ده. زه نور خپلې دندې ته ځم، ته خپل نتایج وګوره.

ketabton.com - The Digital Library

# د نتایجو اثر په ملکې باندې

ملکه او صفیه دواړه کور ته ولاړل، ملکې هغه پاکټ وښیره کوم کې چې د نتایجو ورقې وې، ویې کتلې ټولې په عربي ژبه لیکل شوې وې، ملکه ډېره خفه شوه، ځکه نه دا په عربي پوهېده او نه هم د صفیې مور او پلار، خو صفیې پاکټ وکاته، هلته یو بله ورقه هم پرته وه، په هغې کې بیا په انګلیسي لیکنه شوې وه، ویې لوسته، چې ټوله یې ولوسته نو پوهه شوه، چې په معایناتو کې هر څه نورمال دي، کوم مرض مرض نشته، بس دا یې هسې په تشویش کړې وه، ملکې په ذهن کې نور عجیبه خبرې ګرځېدې راګرځېدې، کله به یې فکر کاوه، چې د سي آی اې مشر غولولې ده او افغانستان ته یې رالېږلې ده او کله به یې فکر کاوه، چې داسې نه وي چې د سعودي عربستان حکومت غواړي دا وغولوي، بلآخره یې له ځان سره داسې پلان جوړ کړ، چې یو ځل بیا معاینه کوي، چې دلته څه ورته وایي.

خو سلیم نه غوښتل چې له دې سره د وزیر محمد اګبرخان روغتون ته ولاړ شي، هخوا عبدالجبار هم تر مازدیګره پورې نه راته، نو دا مجبوره شوه، چې له ښاغلي قدرت سره روغتون ته ولاړه شي، هلته ډاکټرانو ورته وویل:
ښاغلی قدرت دا ستا څه کېږي؟

قدرت وویل:
دا زما لور ده.

ډاکټر ورته وویل:
زه باید درته ووایم، چې دا معاینه دلته شونې نه ده، افغانستان په داسې وسایلو نه ده مجهز چې دا معاینات وکړای شي، یواځېنۍ لاره یې دا ده، چې لاهور ته ولاړ شئ.

ملکې وویل:
خو داسې نه شي کېدای، دا معاینات وګوره ما په امریکا کې کړی او دا مې په سعودي کې شپږ ورځې تر هغه وروسته کړي، وګورۍ څومر فرق (توپیر) سره لري؟

ډاکټر نیم ساعت معایناتو ته کتل بیا یې ورته وویل:
دا کوم معاینات چې تا په امریکا کې کړي، دا معاینات په بشپړه توګه غلط دی.

ملکې وویل:
خو څنګه غلط دي، ته په دې څه پوه شوې، آیا دا امکان لري چې د امریکې غوندې هیواد کې دې، غلط معاینات وشي؟

ډاکټر ورته وویل:

ketabton.com - The Digital Library

ګورئ په دې معايناتو کې يې ليکلي چې مريض يوه مياشت وخت لري، خو زه چې ګورم په تاسو باندې ځلور مياشتې تېرې شوي دی، خو تر اوسه پورې روغه ياست.

ملکې په دغې خبرې يو ناڅاپه ټکان وخوړ، له ځان سره يې وويل:

هو! دا خبره خو بېخي زما په ياد نه وه، هغوئ ماته يوه مياشت وخت راکړی وؤ، خو دغه ده اوس ځلور مياشتې تېرې شوي دي، حتماً يې غوښتي چې ما وغولوي او افغانستان ته مې را ولېږي، خو زه هم پوهېږم چې څه ورسره وکړم.

ketabton.com - The Digital Library

# ستا د ژغورنې یوازېنۍ لاره اسلام ده

ملکه او قدرت دواړه بېرته کور ته وګرځېدل، چې ویې لیدل عبدالجبار په کور کې وؤ، ملکه د عبدالجبار خواته ورغله، عبدالجبار ته یې وویل:

عبدالجباره! ماسره مرسته وکړه، نور سترې شوې یم، نوره د دې کندې تر څنګ نه شم پاتې کېدای، نور مې له دې کندې څخه وباسه، ستاسو رسول ماسره ژمنه کړې وه، چې زما امتي عبدالجبار به تا له دې کندې څخه وباسي، نو ځکه خو ته باید ما له دې کندې څخه وباسې.

عبدالجبار وویل:

یوازېنۍ لار دا ده چې نوره مسلمانه شې، بې له دې څخه بله لاره نشته، که دې خوښه وي، نو مسلمانه شه.

صفیه د دوئ په خبرو کې ولوېده، ویې ویل:

هسې هم له عبدالجبار لالا سره مینه لرې.

عبدالجبار په غوصه وویل:

چپ سه ډمې، دا خبره پکې له کومه شوه؟

ملکې هم وویل:

زه له کله نه مینه ورسره لرم، بیا دا خبره تاته چا وکړه؟

صفیې وویل:

هغه بله شپه دې په خوب کې ویل:

عبدالجباره تاسره مینه لرم، بې له تا ژوند نه شم کولای، همداسې نورې خبرې، آیا څوک په خوب کې هم دروغ ویلی شي؟

ملکې وویل:

خو خوب یوازې خوب وي، نه ریښتیا، ته څنګه کولای شې چې ریښتیا یې وګڼې، زه مسلمانېږم، خو د عبدالجبار لپاره نه، بلکې د دې لپاره چې اسلام یو ښکلی، سپېڅلی او کامل دین ده.

عبدالجبار صفیې ته وویل:

دې ته اودس او غُسل ورکړه، یعنې ورزده یې کړه، بیا یې راوله، چې زه کلمه ورته وښایم، چې مسلمانه شي.

صفیې وویل:

سمه ده! زه به همداسې کار وکړم، بیا به یې راولم، راځه ملکې چې لاړې شو.

ketabton.com - The Digital Library

صفيې د ملکې تر مخ اودس وکړ، بیا یې ورته وویل:
ته همداسې وکړه.

هغې هم اودس وکړ، ګرځه په یو نیم ځای کې به غلطېده، خو اودس یې پای ته ورساوه، بیا صفيې ورته وویل:
اوس نو، خوله او پوزه و وینځه او بیا ټول بدن ووینځه په داسې ډول چې هېڅ ځای پکې وچ پاتې نه شي، هو ریښتیا! په نو (نامه یا ناف) او غوږنو کې دې هم ګوتې ووهه.

ملکې غسل وکړ، بیا له تشناب څخه را ووته، صفيې ځیر ورته کتل، بلآخره ملکه د صفيې له دغه رقم نظر څخه ستړې شوه او صفيې ته یې وویل:
څه خبره ده، چې دومره په ځیر ځیر راته ګورې؟

صفيې ملکه د مخ ښیښې خواته بوتله، ورته ویې ویل:
اوس خپل ځان وګوره! څه عجیبه نور دې په مخ کې پیدا شوی ده، اوس په ریښتیا هم ملکه شوې، د ښکلا ملکه، داسې ملکه چې په نړۍ کې دې سیال نه شته، بس یوازې کمی د درنجو ده، چې هغه نه درته وهم داسې نه شي، چې زما ورور درباندې مئین شي.

ملکې وویل:
ته فکر کوې، چې هغه په ما باندې نه ده مئین شوی؟

صفيې وویل:
راځه چې ورشو، لالا ته، هغه په هېڅ کس باندې نه مئینږي.

صفیه او ملکه دواړه د عبدالجبار خواته ورغلل، عبدالجبار ورته وویل:
اوس نو ته دا کلمه تکرار کړه، په زړه کې ایمان پرې لره، او په خوله یې ووایه: لا اله الا الله محمد رسول الله (اشهدان لا اله الا الله و اشهد ان محمد عبده و رسوله).

ملکې کلمه په ډېره مینه تکرار کړه، بیا یې عبدالجبار ته وویل:
زه پوهېږم، چې ته هم له ماسره مینه لرې، خو شرمېږې، هسې اوس خو زه مسلمانه شوم، اوس خو باید اقرار وکړې.

عبدالجبار وویل:
زه اوس د مینې لپاره وخت نه لرم، باید لاړ شم او ستاسې مشر جان وییک له پښو څخه ونیسم، باید هغه ته وښیم، چې افغانستان ته ځوک راځي، باید چې له خپل سر او مال دواړو څخه تېر اوسي.

ملکې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

زه له تاسره مرسته کوم، ټول هغه کسان چې سي آی اې ته کار کوي، زه به یې تاته در وپېژنم، مثلاً عبدالقدیر، سمیع الله کریمي، جان محمد آریوبي، گلبدین قائم، شریف الله خاورین، کریم الله مشعل او داسې نور.

عبدالجبار وویل:

نه! ته یواځې یو څو کسان پېژنې، ته داسې فکر کوې چې سي آی اې یوازې ته افغانستان ته رالېږلې یې، خو اصل کې خبره داسې نه ده، هغوئ درې سوه او اووه شپېته ښځې رالېږلي دی، مونږ هغوئ او له هغوئ سره لاس لرونکي ټول کسان پېژندلي دي، له هغې جملې څخه لس ښځې مسلمانې شوې وې او یوولسمه یې ته وې، مونږ مخکې هم کولای شول چې هغوئ ونیسو، خو مشکل دا وؤ، چې امریکې په پاکستان باندې فشار ساته او پاکستان په اسلامي امارت باندې، خو چې کله ستاسو مشر افغانستان ته راغی نو مونږ به هغه ونیسو، مونږ یوازې اووه سوه پوهو ښځو ته اړتیا لرو، چې کومو ښځو چې تبلیغات کړي دي، د هغوئ شوي تبلیغات شنډ کړي، چې په درېو یا څلورو ورځو کې به دا کار هم وشي، خو تر ټولو خرابه خبره دا ده، چې امریکې په خپله اسامه ته داسې لاره هواره کړه، چې هغه وکولای شي، په افغانستان کې برید وکړي، اسامه برید ومانه او اوس دلته ده، خو تر ټولو خرابه خبره دا ده، چې امریکا اسامه غواړي او مونږ یې نه شو ورکولی.

ملکې وویل:

خو ور یې کړئ که کنه.

عبدالجبار وویل:

دا کار خو آسانه ده، خو مونږ هم نه پوهېږو چې اصلاً اسامه د افغانستان په کوم ځای کې ده؟ مونږ به هغه پسې پلټنه کوؤ، خو هغه وخت چې کله مو ستاسو مشر ونیوه.

ملکې وویل:

سمه ده! زمونږ مشر اوس چېرې ده؟

عبدالجبار وویل:

زمونږ تر څار لاندې، په کوټه سنگي سیمه کې ده، ولې ملاقات خو نه ورسره کوې؟

ملکې وویل:

زه هم غواړم چې ملاقات ورسره وکړم، ځکه یو څو پوښتنې ترې لرم، خو که ستا خوښه وي، هغه وخت.

عبدالجبار ورته وویل:

ماښام ته دې ورولم، چې وگورم یو بل ته خو کومه وینا نلرئ؟

ketabton.com - The Digital Library

عبدالجبار لاړه، خپله خاصه ډله یې چمتو کړه او کوټه سنګي سیمې ته یې ځان ورساوه، هلته یې څو کسان ولاړ ول، چې عبدالجبار یې ولید، یو ورته نږدې راغی ورته یې وویل:

اوس هغه بل کورته ته تللی ده، که دې خوښه وي، نو موږ به ورشو او وبه یې نیسو.

عبدالجبار او ډله یې د کور مخ ته ودرېدل دروازه یې وټکوله، یو ماشوم ترېنه راووت، عبدالجبار ماشوم په غېږ کې پورته کړ بیا ورته وویل:

پلار ته دې ووایه چې هغه سور مخی مونږ ته وسپاري، کنه بیا مونږ دننه کېږو.

ډېر وخت تېر شو، خو څوک دباندې را ونه وت، عبدالجبار پرېکړه وکړله، چې نور باید ور دننه شي، چې څنګه یې غوښتل، ور دننه شي، نو یو ځوان یو بل سور مخی تر لاسه نیولی راوست، عبدالجبار ته یې وویل:

ما خپل پلار ته څو ځلې وویل:

چې باید دا سړی طالبانو ته وسپارو، خو هغه به دا ویل، چې مونږ دې ته اړ یو چې له خپل مېلمه څخه ساتنه وکړو.

عبدالجبار وویل:

ستاسو په کور کې یې څه کول؟

ځوان وویل:

اصلاً دلته یوه، بل کورته راغلی وؤ، هغوئ چې پوه شول، تاسو ورپسې راځئ، د همدې خبرې لپاره یې زمونږ کور ته راولېږه.

عبدالجبار ورته وویل:

د ډګروال عبدالسمیع رسولي کورته راغلی وؤ؟

ځوان وویل:

هو! همداسې خبره ده.

عبدالجبار خپلو کسانو ته وویل:

ستاسو خبره بلکل سمه وه، لاړ شئ ډګروال عبدالسمیع رسولي ونیسئ او تاسې څلور کسه دا بایفور ته واچوئ درځئ چې ځو.

چې کله دوئ بایفور ته وختل او له ځوان څخه لرې شول، عبدالجبار خپلو کسانو ته وویل:

هغوئ شپږ کسه چې هلته ولاړ دي، هغوئ ته ووایه چې د ځوان کور تر څارنې لاندې ونیسي.

ketabton.com - The Digital Library

د عبدالجبار دوه کسه هلته ښکته شول، عبدالجبار سره له دوؤ کسانو او جان وییک په موټر کې پاتې شول، موټر هم د شش درک په لوري روان شو.

ketabton.com - The Digital Library

# ملکه جان وییک ته څه وایي؟

د ماښام لمونځ به شوی وؤ، خو ملکه او صفیه په لمانځه اخته ول، خبره داسې وه، چې صفیې د ملکې لپاره لمونځ په زوره کاوه او ملکې هم ورپسې تکراراوه، تر څو دواړو لمونځ ختمولو، یوکس دروازه وټکوله، سلیم دروازه پرانیسته، سړي ورته وویل:

ملا صیب! عبدالجبار آخوند ویل، چې هغه کومه ښځه چې ملکه نومېږي، باید عبدالحق څلور لارې ته راولې.

سلیم ورته وویل:

بیا یې هلته تاته تسلیم کړم؟

سړي ورته وویل:

نه هلته یې عبدالجبار آخوند ته تسلیم کړه.

سلیم وویل:

سمه ده! ته درځه زه یې په خپل موټر کې درولم.

چې کله ملکې لمونځ خلاص کړ، سلیم ورته وویل:

لالا ویلي دی، چې باید مونږ دواړه ورشو، له تاسره یې کار ده.

ملکه بې له دې چې څه ووایي، له سلیم سره روانه شوه، بلآخره عبدالحق څلور لارې ته ورسېدل، هلته عبدالجبار ولاړ وؤ، په لاس کې یې یوه لویه ټوټه وه، ملکې ته یې ورکړه، بیا یې ورته وویل:

زما موټر ته پورته شه او بیا په دې باندې خپلې سترګې وتړه.

سلیم وویل:

زه هم غواړم درسره لاړ شم.

عبدالجبار وویل:

کرار په کور کې کېنه، دا څه د ماشومانو کار نه ده.

ملکه د عبدالجبار د بایفور په شاته سیټ کې کېناسته، خپلې سترګې یې کلکې وتړلې، عبدالجبار موټر تر ډېره ګرځاوه راګرځاوه، بیا یې په یوه سیمه کې په بریک باندې پښه ټینګه کړه، له موټر څخه کښته شو، ملکه یې هم کښته کړه، دواړه یوه تعمیر ته دننه شول، هلته ډېر کسان ول، خو ملکې یوازې کولای شول، چې د هغوئ غږونه واوري، بلآخره د تعمیر درېم تهکاو ته دننه شول، دغه تعمیر د ببرک کارمل په دوران کې او د ډاکټر نجیب په مشوره د روسانو له خوا جوړ شوی وؤ، هلته یې نو د ملکې سترګې خلاص کړې، ملکې وکتل شا او خوا ډېر کسان ولاړ ول، دې یوازې درې کسه پېژاندل، چې د هغوئ له جملې څخه یو کس یې له نږدې لیدلی وؤ او نور یې یوازې په انځور کې لیدلی وؤ،

ketabton.com - The Digital Library

اوس ملکې کولای شول، چې هغوئ ووینې، خو هغوئ نه شو کولای چې ملکه ووینې، ځکه ملکه په داسې ځای کې ولاړه وه، چې هلته پوره تیاره وه، خو هغوئ په رڼا کې ول، عبدالجبار ملکې ته ووېل:

مونږ له دوئ څخه خپلې څېړنې کړي، که ته کومه پوښتنه ترېنه لرې، ما ته یې ووایه او ځواب ته یې په تمه اوسه.

ملکې ووېل:

دا پوښتنې ترېنه وکړه، جایس څه ناروغي لري، هغه د څه لپاره افغانستان ته راغلې ده، امریکایان د افغانستان له حکومت څخه څه غواړي، د جایس له کوژدن سره څه وشول، هغه اوس چېرې ده، نورې څو نجونه د جایس په سرنوشت اخته دي؟

عبدالجبار ورته ووېل:

سمه ده! لږ په تمه اوسه، زه به اوس ټولې پوښتنې ورڅخه وکړم.

عبدالجبار یوه کس ته ووېل:

هغه کس ته غږ کړه، چې په انګرېزي ژبه پوهېږي.

ترجمان راغی، ترجمان او عبدالجبار د جان وییک خواته ورغلل عبدالجبار جان وییک ته ووېل:

زه درڅخه ځینې پوښتنې کوم، باید په کامله توګه ورته ځواب راکړې، اوس نو ووایه جایس څه ناروغي درلوده؟

د ترجمان له ترجمې وروسته جان وییک حیران حیران وکتل بیا یې ووېل:

جایس! ته جایس څه پېژنې؟

له ترجمې وروسته عبدالجبار ورته ووېل:

زما په پوښتنو کې نورې پوښتنې مه جوړوه، بس سم ځوابونه راکوه.

له ترجمې وروسته جان وییک ووېل:

جایس هېڅ ناروغي نه درلوده، د هغې دوه لوېې ناروغۍ دا وې، دا چې د هغې سترګې تورې وې، دوهمه خبره دا وه، چې هغې پښتو ژبه ښه زده کړې وه، داسې پښتو به یې ویله، لکه خپله پښتانه یې چې وایي.

له ترجمې وروسته عبدالجبار بیا ترې وپوښتل:

جایس د څه لپاره دلته راغلې ده؟

له ترجمې وروسته جان وییک ووېل:

د افغانو ښځو او سړیو د غولولو لپاره.

له ترجمې وروسته عبدالجبار بیا ترې وپوښتل:

ketabton.com - The Digital Library

د جایس له کوژدن سره څه وشول؟

له ترجمې وروسته جان وییک وویل:

هغه په کور کې پروت ده، په دې پلان کې یې ډېره لویه برخه درلوده، هغه ځکه جایس پرېښوده، ځکه چې دواړه ناروغ ول، خو اصل کې خبره داسې وه، ځکه چې یو هم ناروغ نه وؤ، توپیر په هغوئ کې دا وؤ، چې جایس له حقیقت څخه خبره نه وه، خو د هغې کوژدن دا ټول پلان پخپله جوړ کړی وؤ.

له ترجمې وروسته عبدالجبار بیا پوښتنه وکړه:

له څو نورو نجونو سره مو د جایس په شان کار کړی ده؟

له ترجمې وروسته جان وییک وویل:

په سلګونو نجونو باندې همدا پروژه روانه ده.

له ترجمې وروسته عبدالجبار وویل:

خو د څه لپاره دومره نجونې په کار بوختې دي؟ اصلاً دا پروژه د امریکا لپاره څه ګټه کوي؟

له ترجمې وروسته جان وییک وویل:

د امریکا متحده ایالات د عیسویت دین ملاتړ ده او اوس غواړي چې په افغانستان کې خلک عیسویت ته دعوت کړي، د همدې خبرې لپاره مونږ داسې پروژې مخته بیایو.

تر څو عبدالجبار بله پوښتنه کوله، د یو شي د لوېدو غږ پورته شو، عبدالجبار په بېړه د هغه خواته ورغی، دا اصلاً د ملکې اشاره وه، ملکې عبدالجبار ته وویل:

جان دروغ وایي.

عبدالجبار وویل:

خو ته څنګه پوهه شوې؟

ملکې وویل:

کله چې هغه دروغ وایي، بیا سترګې پټې نیسي.

عبدالجبار بېرته د جان وییک څنګ ته ورغی ورته ویې وویل:

زه هرڅه زغملی شم، خو دروغ نه شم زغملی، ریښتیا راته ووایه چې څه غواړې؟

له ترجمې وروسته جان وییک وویل:

ketabton.com - The Digital Library

موږ هرڅه زغملی شو، خو یو داسې اسلامي حکومت نه شو زغملی، چې زموږ تر کنټروله بهر وي، تاسې باید موږ ته اسامه راکړئ.

له ترجمې وروسته عبدالجبار چورتي شو، د باندې ووت، لاړه ملا عمر ته یې زنګ وواهه ورته یې وویل:
ملا صیب، دا د خنزیر بچیان، له اسامه څخه نه اوړي، موږ باید اسامه ورته وسپارو.

ملا محمد عمر ورته وویل:
په اصل کې خبره د اسامه نه ده! که چېرې موږ اسامه هم ورکړو، امریکا افغانستان ته یوه بله پلمه جوړوي او افغانستان ته راځي.

عبدالجبار ورته وویل:
سمه ده! مشره زه خپلو خبرو ته دوام ورکوم.

عبدالجبار بېرته له نیم ساعت ځنډ وروسته راوګرځېد، جان وییک ته یې وویل:
که دې دروغ وویل، بیا به دې ووژنم، اوس راته ووایه که چېرې موږ تاسوته اُسامه وسپارو، نو تاسې به په افغانستان باندې برید نه کوئ؟

له ترجمې وروسته جان وییک وویل:
اسامه هسې یوه پلمه ده، که چېرې تاسې موږ ته اسامه وسپارئ او که یې ونه سپارئ، نو موږ به په افغانستان باندې برید وکړو، موږ په دې پوهېږو چې تاسې موږ ته اسامه نه راکوئ، نو ځکه خو مو ښه پلمه درته پیدا کړې ده او که چېرې یې را هم کړئ، بیا موږ داسې بله پلمه هم کولای شو، چې د افغانستان خلک سکاټ لري، سټینګر لري او داسې نور لري، چې باید یې موږ ته وسپاري، ځکه دا وسلې زموږ متحد هیواد پاکستان لپاره او همدا رنګه ایران لپاره خطر ده.

له ترجمې وروسته عبدالجبار وویل:
که چېرې موږ دا ټول شیان وسپارو بیا څه کېږي؟

جان وییک وویل:
موږ ته دا مهمه نه ده، دغه شیان موږ ته اصلاً مهم نه دي، موږ ته دا شیان یوازې یوه پلمه جوړوي، موږ دغه پلمه نړۍ والې ټولنې ته جوړوؤ، تر څو په راتلونکي کې، روسان او چینایان دا حق ونه لري، چې زموږ د هیواد په ضد ستاسو له خلکو سره مرسته وکړي.

له ترجمې وروسته عبدالجبار وویل:
نو بیا مو ولې دا نجونې وکارولې، تاسې غواړئ په دې لارې افغانستان خپل کړئ که څه؟

ketabton.com - The Digital Library

له ترجمې وروسته جان وييک وويل:
ته څه کاره يې په دغه حکومت کې؟

له ترجمې وروسته عبدالجبار ورته وويل:
په استخباراتو کې يم، يعنې د استخباراتو د يوې ډلې غړی.

له ترجمې وروسته جان وييک وويل:
خو آی اس آی مونږ ته ويلي، چې ته د امارتي استخباراتو مشر يې.

له ترجمې وروسته عبدالجبار وويل:
خو ما تاته مخکې وويل:

چې زما په پوښتنو کې پوښتنې مه پيدا کوه.

له ترجمې وروسته جان وييک وويل:

ته د استخباراتو مشر يې، ډېر هوښيار هم يې، خو په يوه خبره نه پوهېږې، هغه دا ده، چې موږ پوهېږو چې په افغانستان کې، نه يوازې په افغانستان کې بلکې په ټوله نړۍ کې ښځې څه بدلون نه شي راوستی، نو مونږ څنګه بيا د افغانستان په شان ځای کې غواړو چې د ښځو په واسطه بدلون راولو، ههههه، ههههه، هههههه، هههههه، ههههه، ههههه. اصل کې خبره داسې ده، چې مونږ ځينو سړيو ته پيسې ورکړي دي او همدا رنګه مو د لويو ښوکيو ژمنه ورسره کړې ده، ستاسو د نظام پر ضد تبليغات کوي، پرون يې د تبليغاتو سلسله پای ته رسېدلې ده، چې د هغوئ له جملې څخه يو غټ مشر يې حامد ده، هغوئ په کندهار، زابل، ارزګان، نيمروز، هلمند او ځينې نورو سيمو کې تبليغات وکړل، پرون له افغانستان څخه ووتل او د پاکستان کراچۍ ښار ته لاړل، داچې تاسې اسامه نه راکوئ نو هغوئ به هم مونږ سره مرسته وکړي او له نړۍ والې ټولنې څخه به د يوه نوي دولت د جوړېدو غوښتنه وکړي، دا خو معلومداره خبره ده، چې په دې کار کې به نړيواله ټولنه او د امريکا متحده ايالات مرسته ورسره کوي، دا حکومت به د امريکې حکومت وي، تاسې او نور ټول آزاد افغانان به نه شئ کولای، چې په دې حکومت کې لويه څوکۍ ولري.

له ترجمې وروسته عبدالجبار وويل:
نو بيا دا دومره مصرف او دا دومره ښځې د څه لپاره؟

له ترجمې وروسته جان وييک وويل:

اصل کې خبره داسې ده، چې موږ په دې پوهېدو، چې تاسې ډېر ژر کولای شئ زمونږ دغه پروژه کشف کړئ او له منځه يې يوسئ او که ونه کولای شئ چې له منځه يوسئ نو د يو څه وخت لپاره يې مخنيوی کولای شئ، نو د دې لپاره مونږ د آی اس آی په مرسته دا بله پروژه مخ ته واچوله، دا نجونې مو مړې وګڼلې تر څو تاسې له دوئ سره بوخت شئ،

ketabton.com - The Digital Library

مونږ به هم خپل کار وکړو، آی اس آی هم تاسو ته خبر درکړ، چې څو نجونې افغانستان ته درغلي دي او غواړي چې د نظام پر ضد تبلیغات وکړي، تاسو هم له هغوئ سره بوخت شوئ او موږ خپل کار بې له کومې ستونزې او کړاو څخه مخکې یوړ، اوس که ته غواړې نو زه به د هغو ټولو نجونو پته درکړم،بې له یوې نجلۍ څخه، ځکه کېدای شي چې د سي آی اې پټ معلومات ورسره وي، نو ځکه نه شم کولای چې د هغې پته درکړم.

له ترجمې وروسته عبدالجبار وویل:

ته څه فکر کوې، چې اوس به مونږ له تاسره څه وکړو؟

له ترجمې وروسته جان وییک وویل:

هېڅ! مجبوره یاست، چې خوشې مې کړئ.

له ترجمې وروسته عبدالجبار وویل:

خوشې به دې کړو، خو قبر کې، نور دې په دنیا کې عمر پای ته رسېدلی ده.

له ترجمې وروسته جان وییک وویل:

له آی اس آی سره څه کوئ، هغوئ به ما درڅخه وغواړي؟

له ترجمې وروسته عبدالجبار وویل:

گورو به چې څه کېږي او څه باید وکړو؟

دوئ لا په دې خبرو بوخت ول، چې یو کس را دننه شو، ویې ویل:

عبدالجباره! امیرالمؤمنین زنگ را وهلی اوس ستا په تمه ده.

عبدالجبار په لوړ آوز سره وویل:

دا ټیلیفون هم مونږ ته غضب شو، هېڅ کله مې فکر نه وؤ کړی چې ټیلیفون به مو دومره کنټرول کړي، کنه په خدای که مې دا ټیلیفون راوړی وؤ، هغه پخوانیو ټیلیفونو خو لینونه لرل دغه خدای وهلي لینونه هم نه لري، خدای خبر چې په څه باندې کار کوي؟

عبدالجبار دباندې ووت، پاس بام ته وخوت، هلته یې ملاعمر ته سلام واچاوه بیایې ورته وویل:

ښاغلیه! څه مهم امر ده؟

ملاعمر ورته وویل:

ketabton.com - The Digital Library

ګوره عبدالجباره! وضعیت خرابه ده، پاکستان موږ خرڅ کړلو، موږ باید جان وییک ده که څه بلا ده، آی اس آی ته وسپارو، څکه ځو ورځې وروسته امریکه په افغانستان برید کوي، بیا که موږ جګړه هم کوؤ د پاکستان مرستې ته اړتیا لرو، که مو ماته وخوړه بیا هم د پاکستان مرستې ته اړتیا لرو، څکه موږ بیا دلته نه شو اوسېدای.

چې کله عبدالجبار ټلیفون له غوږ څخه لرې کړ، حکیم اللّٰه ور په څنګ شو، عبدالجبار ته یې وویل:
وروره! مشر څه ویل؟

عبدالجبار وویل:
مشر ویل، چې باید دا رزیل خوشې کړو، کنه بیا د اسلام آباد اړیکې له موږ سره خرابېږي.

حکیم اللّٰه عبدالجبار ته وویل:
که مونږ له امریکې څخه ماته وخور بیا به څه کوؤ؟

عبدالجبار وویل:
مونږ به خائنانو ته سزا ورکوؤ، مونږ به خائنانو ته مرګ وګرځو، راځه چې اوس هغه احمق ته ورشو، لږ به یې په خوند پوه کړو، بیا به یې خوشې کړو.

چې کله عبدالجبار او حکیم اللّٰه دواړه د جان وییک خواته ورغلل، نو ملکه یې ولیده چې جان وییک خواته ورغله، جان وییک ته یې په انګرېزي وویل:
ته داسې نه شې کولای ته هغه نجونې نه شې خرڅولای، هغوئ خو ستا په خوښه او یوازې د هیواد خدمت لپاره راغلې وې، اوس ته څنګه هغوئ خرڅولای شې؟

جان وییک وویل:
ته دلته څه کوې؟ دلته څنګه راغلې یې؟ ژر کوه له دې ځای څخه وتښته، کنه بیا به زموږ پروژه خرابه شي.

ملکې وویل:
ته د سلګونو نجونو ژوند په اړه فکر نه کوې، خو د خپلې احمقانه پروژې غم کوې؟ تاسې دومره رذیل کسان یاست چې غواړئ ډېرې نجونې تر خپلې پروژې قربان کړئ؟

جان وییک وویل:
موږ مجبور یو، چې ځینې نجونې تر خپلې پروژې قربان کړو، که زموږ پروژه بشپړه نه شي، نو په میلیونونو افغانو ښځو ژوند به قرباني شي.

ملکې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

تاسې دروغجن یاست، اصلاً افغانې ښځې په همدې حالت باندې خوشحالې دي، خو تاسې غواړئ خپله اډیا او نظریه په افغانو مېرمنو باندې پلې کړئ، آیا تاسې رېښتیا د افغانانو فکر وړي یاست او که اصل کې خبره د تریاکو ده؟

جان وییک وویل:

نه اصل کې خبره د افغانستان او افغانانو ده، هغوئ ډیموکراسي غواړي او باید ډیموکراسی ته ورسېږي، ځکه ډیموکراسي د هغوئ په کټه هم ده.

ملکې وویل:

خو زه په دې باندې پوهېږم چې افغانان کله هم ډیموکراسي نه غواړي بلکې هغوئ اسلامي نظام غواړي، که له امان الله خان څخه تر ډاکټر نجیب پورې وګورو، نو ټولو د اسلامي نظام د نه شتون له امله څوکۍ او نظام له لاسه ورکړي ده، که مونږ بیا هم داسې نظام ورته جوړ کړو، دوئ به یې بیا هم وران کړي، ته هم باید د دې خیانت لپاره مړ شې.

جان وییک وویل:

په تا څه شوي؟

تر څو عبدالجبار د صبر ورته ویل، یو غږ اوچت شو.

۱۳۹٦/٦/۲۷ کابل افغانستان

دوام لري...

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*